# خادم مسيحي

GLOBAL UNIVERSITY

# مسيحي خادم


ليكونكی

ماريان برنت



*Global University*

**P.O.Box 5749**

Nicosia, Cyprus

# مسيحي خادم

لومړی چاپ ۲۰۰۸

© 2008 All Rights Reserved

Pashto "Christian Workers" 2008

***Global University***

**P.O. Box 5749**

**Nicosia, Cyprus**

## د مطالبو فهرست

د لوستونکو سره څو خبرې ............................................ 1

لومړی لوست: خادمين د الهي کورنۍ غړي دي ................. 5

دوهم لوست: د لومړنۍ کليسا خادمين ......................... 18

دريم لوست: د خادمينو له پاره د خدای نقشه.................. 30

څلورم لوست: زه هم کولای شم چې خادم و اوسم ................. 44

پنځم لوست: خادمتوب ............................................ 60

شپږم لوست: يو بل ته د خادمينو اړتيا.......................... 76

اووم لوست: په محبت سره خدمت................................. 89

اتم لوست: د رهبرانو سره همکاري.............................. 101

نهم لوست: په خوشالۍ سره د خدمت پای ته رسېدل ....... 116

وروستۍ خبرې ....................................................... 128

# د لوستونکو سره څو خبرې

کله چې تاسو مسیح د خپل خلاصوونکي په توګه منئ، د هغه د کلیسا یوه برخه ګرځئ. دا ځکه چې کلیسا په حقیقت کې هغه کسان دي چې مسیح له دې نړۍ څخه غوره کړي دي ترڅو په هغه پوري اړه ولري. آیا غواړئ چې د خدای په هغې نقشې باندې پوه شئ چې د کلیسا له پاره یې لري؟ تاسو څنګه کولای شئ چې په دغې نقشې کې خپل ځای پیدا کړئ؟ خدای څرنګه تاسو مجهز کوي ترڅو په کلیسا کې د هغه خدمت وکړئ؟

زمونږ هدف دا دی چې د دغو پوښتنو د ځوابونو په پیدا کولو کې له تاسو سره مرسته وکړو. مونږ به په ګډه سره د مقدس کتاب په هغه تعلیم کې څېړنې وکړو چې د کلیسا له پاره د خدای د پلان په څرنګوالي پورې اړه لري. غواړو له تاسو سره د کلیسا د ډالیو په پوهېدنې او دا چې څرنګه کولای شو د خدای له پاره یو ښه خادم و اوسو، مرسته وکړو.

دا کتاب مونږ ته په ډاګه کوي چې خدای څرنګه د خپل پلان او نقشې په مطابق کلیسا جوړه کړه او دا چې ولې په کلیسا کې بېلابېل خادمین په خدمت بوخت دي او هر څوک باید یو څه خدمت په کلیسا کې ترسره کړي. دې نه علاوه تاسو ته به د خپلو ډالیو یا نعمتونو د تشخیص او کار اخیستنې په اړه عملي وړاندیزونه هم دروړاندې کړو. دغه کتاب له تاسو سره مرسته کوي ترڅو په دې پوه شئ چې څرنګه کولای شئ د خپلې کلیسا له مشرانو سره مرسته وکړئ او د نورو خلکو خدمت وکړئ.

په دې کتاب کې د زده کړې له نوي ميتود څخه کار اخيستل شوی دی ترڅو تاسو دا وړتيا ولرئ چې اصول په آسانۍ سره زده کړئ او له هغو څخه په خپل ژوند کې کار واخلئ.

په پيل کې د هر لوست سريزه يا مقدمه ولولئ تر څو د ذهني پلوه زيات چمتووالی پيدا کړئ. وروسته بيا هر لوست، چې برخه په برخه وېشل شوی دی ولولئ او هغو سوالونو ته ځواب ورکړئ چې د هرې برخې په پای کې راغلي دي. تاسو کولای شئ چې د خپلو ځوابونو له پاره له بېلې پاڼې څخه استفاده وکړئ. که چېرې دغه کتاب په ډله ايزه يا ګروپي شکل سره مطالعه کوئ نو د خپل ګروپ د مشر لارښوونو ته پاملرنه وکړئ.

## سوالونو ته د ځواب ورکونې طريقه

په دې کتاب کې د سوالونو بېلابيل ډولونه وجود لري. په دې لاندينۍ برخې کې تاسو له پاره د هر ډول سوال نمونه او هغې ته د ځواب ورکونې طريقه ښودل شوې ده.

## څو ځوابه سوالونه

په دې ډول سوالونو کې، د هر سوال له پاره څو ځوابونه په پام کې نيول شويدي. تاسو بايد هغه ځواب غوره کړئ چې صحيح او مناسب وي. لانديني مثال ته وګورئ.

مقدس کتاب د څو کتابونو مجموعه ده؟

الف: د ۱۰۰ کتابونو

ب: د ٦٦ کتابونو

ج: د ۲۷ کتابونو

د پورتني سوال درست ځواب د (ب) توری دی. په نتیجه کې تاسو باید د (ب) د توري څخه دایره چاپېره کړئ.

## صحيح او غلط سوالونه

په دې ډول سوالونو کې تاسو باید دا په ګوته کړئ چې کوم عبارت صحيح او کوم غلط دی. دې لاندیني مثال ته پام وکړئ:

په دې لاندنیو عبارتونو کې کوم یو صحيح دی؟

الف: مقدس کتاب د ۱۲۰ کتابونو مجموعه ده.

ب: مقدس کتاب نن ورځ هم د ایماندارانو له پاره د خدای کلام دی.

ج: د خدای د کلام ټولو لیکوالانو خپل کتابونه په عبراني ژبه لیکلي دي.

د: روح القدس د خدای د کلام الهام ورکوونکی دی.

د (ب) او (د) عبارتونه صحيح دي.

## انطباقي سوالونه

په دې ډول پوښتنو کې ستاسو څخه غوښتل کېږي چې هغه برخې مشخصې کړئ چې له یو بل سره تړاو لري. لکه نومونه او د هغو معنا ګانې او یا د مقدس کتاب کتابونه د هغو د

ليکوالانو سره. لاندېني مثال ته ځير شئ:

د لاندنيو کسانو څخه د هر يو نوم د هغه کار تر څنګ وليکئ چې کوم هغوی ترسره کړی دی.

الف: د سينا په غره کې يې له خدای څخه لس فرمانونه ترلاسه کړل. ______

ب: د اسرائيلو قوم يې د اردن له سيند نه تېر کړ. ___

ج: له خپل لښکر سره يو ځای د اريحا د ښار له ديوالونو څخه ګرد چاپيره تاو شو. _______

د: د فرعون په دربار کې يې ژوند وکړ. _____

۱) موسی

۲) يوشع

ځواب: د (الف) او (د) عبارتونه په موسی پورې اړه پيداکوي. له دې کبله پکار ده چې په خالي ځای کې دې د (۱) عدد وليکل شي. د (ب) او (ج) عبارتونه د يوشع سره تړاو لري. نو پکار ده چې په خالي ځای کې دې د (۲) عدد وليکل شي.

# خادمین د الهي کورنۍ غړي دي

البرت چې په مسیح باندې له ایمان راوړلو څخه یې کم وخت تېرېږي، د هغه په زړه پوري حقایقو څخه خوند اخلي چې د خدای د کلام د مطالعې په ترڅ کې ورته پرانیستل شوي دي. هغه په پخوانیو زمانو کې د خدای د خبرو کولو د طریقو په اړوند مطالعه کوي او په دې اړه د خدای د کلام نمونې څېړي.

د مقدس کتاب د مطالعې په حال کښې د البرت دې ته پام شو چې خدای تل د ځان له پاره کورنۍ درلوده چې په دې نړۍ کې یې د هغه کار ترسره کړی دی. هغه د پخوانیو پیغمبرانو په اړه او همدا راز د مسیح د شاګردانو او دهغه رسولانو په اړوند څېړنې کوي چې د نوې لوظنامې په دوران کې یې ژوند کاوه او دې ټکي ته متوجه کېږي چې څه رنګه دغو نارینه و او ښځو د خدای پیغام نورو ته اعلاناوه.

د دې موضوع د مطالعې په وخت کې البرت داسې دعا وکړه: "ای پاکه ربه! څرنګه کولای شم چې زه هم ستا د خادمینو په ډله کې وشمېرل شم؟" کله چې هغه خپله دغه اړتیا چې په خپل ماحول کې یې د مسیح د پېژندنې په اړوند درلودله، ولیده دغه اړتیا د هغه د زړه په فریاد باندې بدله شوه. ایا دغه دعا نن ورځ ستاسو د زړه فریاد هم دی؟ د لومړي لوست په

مطالعې سره به تاسو په تدريج سره د خدای په هغه نقشې باندې پوه شئ چې ستاسو دپاره ده او په دې به هم پوه شئ چې څرنګه کولای شئ په دې دنيا کې د هغه کار ترسره کړئ.

## هغه څه چې په دې لوست کې به يې ولولئ

١- د خدای الهي کورنۍ

٢- هغه نقشه چې خدای يې د خپلې الهي کورنۍ له پاره لري

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو . . .

- په دې پوه شئ څوک د الهي کورنۍ غړی کېدای شي.
- د خدای هغه نقشه بيان کړئ چې د خپلې کورنۍ له پاره يې لري.
- دا بيان کړئ چې څرنګه کولای شئ دنيا ته د انجيل د پيغام د رسولو په خاطر د خدای د نقشې يوه برخه شئ.

## ١ - د خدای الهي کورنۍ

د پيدايښت په کتاب کې لولو چې خدای نر او ښځه د خپل ځان په شان پيدا کړل (پيدايښت ١: ٢٧) او د خپل خلقت څخه راضي او خوشاله ؤ (پيدايښت ١: ٣١).

**الف: په لرغونې زمانه کې د خدای الهي کورنۍ**

که څه هم ټول مخلوقات د خدای له خوا پيدا شول، خو يوازې انسان قادر ؤ چې د خدای سره اړيکې ټينګې کړي او

ورسره مشارکت ولري. خدای دا غوره ګڼله چې د انسان سره مشارکت ولري او خپل ځان خپل مخلوق ته څرګند کړي. خدای اراده کړې وه چې یوه الهي کورنۍ ولري.

که څه هم د آدم او حوا د ګناه له کبله دغه مشارکت ډېر ژر له منځه لاړ (پیدایښت ۳: ۱- ۲٤)، خو بیا هم خدای د دې الهي کورنۍ په لټه کې ؤ او د هغو کسانو سره یې خپل دغه مشارکت ته دوام ورکړ چې د هغه څخه یې فرمانبرداري کوله.

په پیدایښت ٤: ۲٦ کې داسې لولو: "خلکو د خدای په عبادت کولو پیل وکړ." د نوح داستان دا په څرګنده توګه په ډاګه کوي چې خدای په هغې زمانې کې هم د کورنۍ څښتن و. "نوح د خدای ټول احکام ترسره کړل" (پیدایښت ٦: ۲۲).د نوح څخه مخکې هم خدای داسې کسان درلودل چې د هغه د کار په ترسره کولو مکلف وو.

د ابراهیم د داستان په شروع کولو سره مونږ په حقیقت کې د هغه د کورنۍ ګزارش ترلاسه کوو چې له هغې څخه د یهودو ملت (د خدای غوره کړای شوی قوم) منځ ته راغی. د یهودو قوم هغه ملت یا وګړي وو چې یو خاص ماموریت یې په غاړه وو او باید د خدای له پاره یې یو ځانګړی کار سرته رسولای وای.

د یهودو قوم د اسرائیلیانو په نامه هم یاد شوی دی. موسی د دې قوم له مشرانو څخه ؤ چې د اسرائیلو قوم یې له مصر څخه راوویست. داود د هغو یو غښتلی او قدرتمند پاچا ؤ. پیغمبران هغه کسان وو چې د خدای پیغام یې خلکو ته رساوه.

مونږ کولای شو چې د خدای د پیغمبرانو تاریخ په زړې لوظنامې کې ولولو. په هغو کې ډېر داسې کسان وو چې د خدای څخه یې اطاعت وکړ او د هغه کار یې ترسره کړ.

## هغه څه چې تاسو یې باید ترسره کړئ

1. د لاندنیو شخصیتونو شمېره د هغو عبارتونو په پای کې ولیکئ چې ورسره تړاو لري.
   الف: د اسرائیلو غبنتلی پاچا...
   ب: هغه د اسرائیلو قوم له مصر څخه وویست....
   ج: د یهودو د قوم سوانح په هغه سره پیل کېږي...
   ۱) ابراهیم
   ۲) موسی
   ۳) داود

خپل ځوابونه له هغو ځوابونو سره مقایسه کړئ چې د لوست په آخره کې راغلي دي.

## ب: په نوې زمانې کې د خدای الهي کورنۍ

په هغې زمانې کې چې عیسی مسیح په دې دنیا کې ژوند کاوه، هغه به هر چېرې سفرونه کول او په ترڅ کې به یې نیک کارونه ترسره کول. او له خپل ځان سره به یې د آرامۍ، روغتیا، الهي مرستې او بخښنې زیری خپراوه. مګر هغه ته یوه ډېره مهمه دنده ورپه غاړه وه چې فقط هغه کولای شول هغه ترسره کړي. هغه خپل بدن د ګناه له پاره د یوې کاملې قربانۍ په توګه ورکړ. د

حیواناتو هغه قربانۍ چې د زړې لوظنامې په دوران کې د هغې حکم شوی و، ټول د مسیح د قربانۍ طرف ته یوه اشاره وه. په نتیجه کې کله چې مسیح خپل ځان د یوې قربانۍ په توګه ورکړ، نور هغو پخوانیو قربانیو ته ضرورت نه و چې ترسره شي.

د مسیح مړینه د خدای د غوښتنې او ارادې له مخې ترسره شوه. مسیح په دې خاطر دې دنیا ته راغی چې د خپل آسماني پلار اراده پوره کړي. "زما خوراک او څښاک هغه دی چې زه د خدای رضا ترسره کړم او هغه کار پوره کړم د کوم له پاره چې استول شوی یم" (یوحنا ٤: ٣٤). خدای د هغه له کار څخه راضي و. هغه عیسی بېرته له مړو څخه ژوندی راپورته کړ او وروسته له دې چې څلویښت ورځې یې له خپلو شاګردانو سره تېرې کړې، آسمان ته پورته شو (اعمال ١: ٣- ٩).

د مسیح پیروان د خپل لارښود په غیاب کې کوم کار باید ترسره کړی وای؟ هغوی په دې خبرې ډېر ښه پوهېدل! ځکه مخکې تر دې چې مسیح له هغو څخه جلا شي، هغوی ته یې د دې موضوع په اړه خبر ورکړی و. "هغوی باید د نړۍ ګوډ ګوډ ته لاړ شي او د انجیل پیغام خلکو ته ورسوي" (اعمال ١: ٨).

د رسولانو د اعمالو کتاب د هغو ښځو او نارینه وو د کړو وړو شرحه ده چې آسمان ته د مسیح د ستنېدو څخه پس یې د هغه کار ته دوام ورکړی دی. د هغو څخه ځیني هغه وخت د مسیح شاګردان وو چې هغه د زمکې په مخ ژوند کاوه. د هغو څخه دوه تنه یعنې پطرس او یوحنا کله چې د دعا دپاره د عبادتخانې په لور روان وو، یو سوالګر یې د خپلې لارې پرسر ولید چې شل پروت و او خیر یې

غوښته. له هغو سره پیسې نه وې چې سوالګر ته يې ورکړي. مګر پطرس د عیسی مسیح په نامه هغه ته وویل چې پورته شي او حرکت وکړي. وروسته يې هغه له لاسه ونیوه او ورسره يې مرسته وکړه چې پورته شي. سوالګر راپورته شو او په ټوپونو او خیزونو سره په داسې حال کې چې له خوشالۍ څخه يې د خدای شکرونه پرځای کول په لاره ګډ شو (اعمال ۳: ۱- ۱۰). د مسیح کار د پطرس او یوحنا په وسیله ادامه وموندله او ډېرو خلکو په مسیح ایمان راوړ او کلیسا وده وکړه.

د خدای بل ځانګړی خادم چې د اعمالو په کتاب کې د هغه په اړه لولو، پولس رسول دی. پولس مخکې تردې چې په مسیح ایمان راوړي، د مسیحیانو د زورونې او کړونې په هڅه کې و. خو وروسته بیا هغه د کلیسا په یو وفاداره خادم بدل شو چې په ډېرو هېوادونو کې يې د مسیحیت د ودې او خپرېدو له پاره زیار وویست او په دې توګه يې د مسیح کار ته ادامه ورکړه.

## هغه څه چې باید ترسره کړئ

2. هغه خادم چې د ایمان راوړلو څخه وړاندې يې د مسیح د پېروانو د زورونې او کړونې له پاره ملا تړلې وه، څه نومېده؟

الف: یوحنا

ب: پولس

ج: پطرس

خپل ځواب مقایسه کړئ.

## ج: په اوسنۍ زمانه کې د خدای الهي کورنۍ

سره د دې چې آسمان ته د مسیح د بېرته ستنېدو څخه څه د پاسه ۲۰۰۰ کاله تېرېږي، نن ورځ هم د هغه کار ادامه لري. مسیح آسمان ته د پورته کېدو څخه مخکې خپلو شاګردانو ته دستور ورکړ او هغو ته یې وویل: "... د ټولې دنیا هرې سیمې ته لاړ شئ او زما د زیري وعظ ټول مخلوق ته ورکړئ" (مرقوس ۱۶: ۱۵). د مسیح دغه دستور د ټولو مسیحیانو له پاره دی چې په هرې زمانې او عصر کې ژوندون کوي. د مسیح خبرې نن ورځ هم زمونږ له پاره دي.

د مسیح له لارې د خدای د نجات ورکوونکي پیغام په اورېدو او هغه ته په ایمان راوړلو سره د خدای کورنۍ وده کوي او لمنه یې پراخېږي. هغه سپېڅلې ښځې او نارینه چې د زړې لوظنامې په دوران کې اوسېدل، د لومړنۍ کلیسا د زمانې ایمانداران او همدا شان د اوسني عصر ایمانداران، ټول د خدای بچیان دي او د خدای الهي کورنۍ جوړوي.

خدای د خپلې الهي کورنۍ له لارې له دنیا سره خبرې کوي. مسیح په آسمان کې دی، مګر د زمکې پر مخ د هغه کار به زمونږ په وسیله دوام مومي. د ژوند او خلاصون پیغام همیشه د خدای په زوی باندې د ایمان راوړلو له لارې اعلان شوی دی، دا ځکه چې د دې حقایقو بیان د مسیحیانو دنده ده.

## هغه څه چې تاسو يې بايد ترسره کړئ

3. د مقدس کتاب کوم آيت د دې حکم کوي چې د مسيح دستور زمونږ دپاره هم دی.

الف: پيدايش ٦: ٢٢

ب: مرقوس ١٦: ١٥

4. صحيح جملې په ګوته کړئ:

الف: د خدای الهي کورنۍ د نوې لوظنامې له دوران څخه پيل کېږي.

ب: هغه کسان هم د خدای په الهي کورنۍ کې شامليدای شي چې د مسيح د پېدايښت څخه مخکې يې ژوند کاوه.

ج: هغه ايمانداران چې په دې زمانه کې ژوند کوي، هغوی هم د خدای د کورنۍ يوه برخه ګڼل کېږي.

د: د هغو کسانو له پاره چې د موسی په زمانه کې يې ژوند کاوه، ناممکنه وه چې د خدای د الهي کورنۍ غړي وي.

خپل ځوابونه مقايسه کړئ.

## ٢- هغه نقشه چې خدای يې د خپلې الهي کورنۍ له پاره لري

مونږ اوس په دې پوهېږو چې خدای د خپل ځان دپاره الهي کورنۍ لري چې د آدم د خلقت څخه را په دې خوا يې هغې ته شکل او صورت ورکړی دی. په دې برخه کې غواړو په هغه هيلو او هدوفونو باندې فکر وکړو چې خدای يې د خپلې الهي کورنۍ دپاره لري.

## الف: د هغه د یواځني زوی په شان کېدل

آیا د دې حقیقیت پوهېدل به تاسو ته د تعجب وړ نه وي چې خدای غواړي خپل صورت ته د خپلو بچیانو په ځېرو کې شکل ورکړي؟ د رومیانو په لیک کې داسې راغلي دي: "ځکه چې خدای خپل خلک د هغه وخت راهیسې پېژندل چې دوی لا نه وو او بیا یې حکم وکړ چې دوی دې د هغه د زوی د صورت په شان شي، د دې له پاره چې هغه په دې ټولو ورونو کې مشر ورور وګرځي" (رومیان ۸: ۲۹).

هیڅ شی نشي کولای چې دې نه زیات د یوه پلار د خوشالۍ سبب وګرځي چې هغه وګوري زوی یې په کامله توګه د هغه په شان شوی دی او خپل صورت په خپل زوی کې وګوري.خدای غواړي چې زمونږ ژوند او زمونږ هیلې او غوښتنې په پوره توګه د هغه په شان وي. که چېرې مونږ زیار وباسو چې د خدای په شان سپېڅلي او عادل و اوسو، نو هغه وخت به مونږ د هغه د زوی په شان شو.

ولې خدای غواړي چې مونږ دې د هغه د زوی په شان شو؟ خدای پوهېږي که چېرې مونږ د هغه د زوی په شان نه شو، نو نشو کولای چې د ځمکې پر مخ د هغه د زوی کار ته ادامه ورکړو.

یوځل یو زړي ورکوونکي د انجیل د موعظې په مقصد یو هېواد ته سفر وکړ. هغه داسې فکر کاوه چې تر دې وخته هېڅوک د انجیل د پیغام د رسولو په خاطر دې هېواد ته نه دی راغلی. په نتیجه کې هغه د مسیح او د هغه د کارونو په اړه د خلکو سره

خبرې اترې پيل کړې. د هغه هيواد وګړو د هغه په ځواب کې وويل: (هو! عيسی مسيح همدلته و او مونږ هغه لېدلی دی).
زېری ورکوونکی پوهېده چې دا نشي کېدای چې حقيقت وي.
خو د خلکو د خبرو په نتيجه کې هغه په دې پوه شو چې کلونه پخوا هلته يو بل زېري ورکوونکي ژوند کاوه چې بالکل يې د مسيح په شان ژوند او چلند کاوه تر دې اندازې پورې چې د هغه ځای خلکو ګومان کاوه چې هغه په خپله مسيح و.

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

5. کله چې مونږ وايو چې خدای غواړي خپل صورت په مونږ کې ووينې، زمونږ مقصد دا دی چې بايد په دې لاندينيو خصوصياتو سره د هغه په شان و اوسو.

الف: په فزيکي بڼه کې
ب: په اخلاقي خصوصياتو کې
ج: په ظاهري اعمالو کې

## ب: د انجيل د پيغام رسول

مسيح مونږ ته دستور راکړی دی چې د انجيل پيغام ټولې نړۍ ته ورسوو. د مسيح د دې حکم څخه مقصد څه دی؟ د هرڅه نه مخکې، داسې ليواله خادمينو ته اړتيا ده چې د انجيل د پيغام د رسولو په خاطر د نړۍ نورو سيمو ته لاړ شي. دې نه علاوه بايد نور خادمين موجود وي چې د هغو له پاره دعا وکړي او همدا شان داسې کسان چې هغوی د مالي يا پيسو له پلوه تامين کړي ترڅو هغوی وکړای شي د خدای کلام خلکو ته ورسوي. مقدس کتاب او تعليمي وسايلو ته هم اړتيا ليدل کېږي.

کله چې کلیسا په دې خدمت پیل کوي، ډېرو کسانو ته اړتیا ده چې تعلیماتي کارونه پر مخ یوسي، دعا وکړي، د ناروغانو خدمت وکړي او غمجنو او پرېشانو خلکو ته ډاډګېرنه او تسلي ورکړي. داسې کسانو ته اړتیا ده چې د کلیسا ودانۍ جوړه کړي او یا د هغې د پاکۍ او صفایۍ کار ترسره کړي. په اصل کې ټول مسیحیان باید دې ته لیواله وي چې کار وکړي او بله داچه د هغوی کار دې د خدای د جلال سبب وګرځي.

## ج: آبدي ژوند د خدای سره تېر کړي

اجازه راکړئ چې په یو بل هدف او مقصد باندې وغږېږو چې خدای پلار د خپلې الهي کورنۍ له پاره په پام کې نیولی دی. هغه څه چې یو پلار یې ډېر زیات خوښوي دا دي چې بچیان یې کور ته راشي. د ورځې په پای کښې معمولاً مور او پلار خپلو بچیانو ته په کور کې ښه راغلاست وایي. حتی که چېرې د هغو بچیان لوی شوي هم وي او خپل شخصي ژوند ولري، خو بیا هم مور او پلار دې ته لیواله وي چې خپل بچیان وګوري او له هغو سره وي.

زمونږ خدای هم همداسې دی. په یوحنا ۱۴: ۲ کې مسیح فرمایلي دي: "زما د پلار په کور کې د اوسېدو ډېر ځایونه دي. که چېرې داسې نه وای نو بیا ما به تاسو ته ویلي ؤو. ځکه زه ځم چې ستاسو له پاره هلته ځای تیار کړم". خدای هم د هغې شیبې انتظار کوي چې د هغه الهي کورنۍ د هغه حضور ته ورشي. هغه پوهېږي چې دغه وخت راتلونکی دی او د دې وخت له پاره

هرڅه چمتو کوي او په دې وخت کې به د الهي کورنۍ ټول غړي د تل له پاره سره یوځای وي.

په هغې زمانې کې به یوه پرتمینه پېښنه رامنځته شي. آسماني پلار به خپلو بچیانو ته اجرونه ورکړي. مسیح فرمایي چې په هغې زمانې کې به د هغو کسانو له پاره خاص اجرونه په پام کې ونیول شي چې د هغه د نوم په خاطر یې زیار او زحمت کښلی وي. "دا هرڅه تاسو په خوشالۍ او روڼ تندي وزغمئ ځکه چې په آسمان کې ستاسو د پاره لوی اجر دی، ځکه چې ستاسو نه مخکې هم دغه رنګ دوی نبیان ربړولي دي" (متي ۵: ۱۲)

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

6. داسې فرض کړئ چې غواړئ د خپل یو دوست سره د خدای د هغې نقشې په اړه خبرې وکړئ چې د خپلې الهي کورنۍ له پاره یې په پام کې لري. هغه درې نقشې او هدفونه چې خدای یې د خپلې الهي کورنۍ له پاره لري او د خدای کلام هغې ته اشاره کوي، ذکر کړئ.

الف: .................... ..................................

ب:..............................................................

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

د سوالونو ځوابونه په ترتیب سره نه دي لیکل شوي ترڅو تاسو ونشئ کولای د یوه ځواب په کتلو سره په اتفاقي توګه د راتلونکي سوال ځواب ته وګورئ. له دې کبله لومړی د خپل ځواب شمېره پیدا کړئ او وروسته بیا خپل ځواب ورسره مقایسه کړئ.

۴) الف) غلط

ب) درست

ج) درست

د) غلط

۱) الف) داود

ب) موسی

ج) ابراهیم

۵) اخلاقي خصوصیات

۲) پولس

۶) ستاسو په ځواب کې باید دغه درې موضوعګانې شاملې وي.

الف) د هغه د یوائیني زوی په شان کېدل

ب) د انجیل د پیغام رسول

ج) ابدیت دې د خدای په حضور کې تېر کړي

۳) ب) مرقوس ۱۶: ۱۵

# د لومړنی کلیسا خادمین

کله چې آلبرت د خدای د الهي کورنۍ د غړیتوب د مفهوم په اړه مطالعه کوله، د خدای د هغه هدف په اړه یې په څېړنې پیل وکړ چې د هغه له پاره یې درلود. د څېړنې په دوران کې هغه دې ته لیواله شو چې د هغو کسانو په ډله کې دې وي چې د خدای خدمت کوي. همدا شان هغه دې ته متوجه شو چې ډېر نور ایمانداران هم په دې ډله کې شامل دي.

آلبرت په دقیقه توګه د کلیسا موضوع د رسولانو د اعمالو د کتاب څخه مطالعه کړه. هغه څه وو چې د لومړنۍ کلیسا د ایماندارانو د راغونډېدو سبب ګرځېدلي وو؟ هلته څه ډول کسان سره راټول شوي وو؟ کله چې هغوی سره راټولېدل نو څه به پېښېدل؟ دغه پوښتنې د هغه ذهن بوخت ساتلی و.

د دې په ترڅ کې چې آلبرت د دې پوښتنو ځوابونه ترلاسه کول، د کلیسا د غړیتوب په اړه یې هم یو روښانه درک پیدا کړ. هغه په دې پوه شو چې ولې له نورو ایماندارانو سره لیدل کتل او یوځای کار کول دومره د اهمیت وړ دي. هغه د کلیسا په اړه د خدای د هدف په اړوند تحقیقات پیل کړل.

هیله لرو چې تاسو هم وکړای شئ د دې لوست په مطالعې سره د خدای دغه اهداف کشف کړئ.

## هغه څه چې په دې لوست کې به یې ولولئ

۱- لومړنۍ کلیسا
۲- د اوسنۍ زمانې کلیسا

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- په دې پوه شئ چې په کومو دلایلو د لومړنۍ کلیسا غړي سره راټولیدل.
- دا توضیح کړئ چې کلیسا څرنګه کولای شي د مسیح کار ته په دې دنیا کې ادامه ورکړي.
- دا بیان کړئ چې کله ایمانداران سره ټولېږي څه پېښېږي.

### ۱ - لومړنۍ کلیسا

لومړنۍ کلیسا له عادي کسانو څخه جوړه شوې وه، هغه کسان چې بېلابېلې اړتیاوې یې درلودلې. له هغو سره خپلې ستونزې، اندېښنې او مسایل وو. مګر هغوی ټولو مسیح د خپل ژغورونکي په توګه قبول کړ او ایمانداران شول.

په هغه زمانه کې د مسیح پیروان عام او معمولي خلک وو چې د ټولنې له ټېټې طبقې سره یې تړاو درلود. که څه هم هغوی پوهان او بډایان نه وو، خو ټولو په مسیح باندې ایمان درلود. پطرس که څه هم له مسیح څخه انکار وکړ خو بیا هم یو

ايماندار ؤ (مرقوس ١٤: ٦٦- ٧٢). توماس هم يو ايماندار ؤ که څه هم هغه په دې شک درلود چې ګنې مسيح دې د مړو څخه بېرته پورته شوی وي (يوحنا ٢٠: ٢٤- ٢٥).

د تعميد ورکوونکي يحيی په اړه داسې ليکل شوي دي: "بله ورځ يحيی وليدل چې عيسی د هغه طرف ته راځي. هغه وويل چې وګورئ د خدای ګډوری چې د دنيا ګناه په ځان وړي" (يوحنا ١: ٢٩). د هغې وخت نه وروسته ډېرو کسانو د مسيح څخه تابعيت کړی دی. خو په هماغه کم وخت کې مسيح ډېر دښمنان هم پيدا کړل. د هغه تعليم به تل د کاهنانو او ديني لارښوونکو له تعليماتو سره ورته نه وو. په نتيجه کې له هماغه پيل څخه هغوی د مسيح د وژلو په لټه کې شول. هماغه کسانو چې له مسيح سره ناوړه چلند وکړ، د هغه پيروان يې هم د زورونې او کړونې لاندې ونيول.

د اعمالو د کتاب د نهم فصل په اول او دوهم آيت کې لولو چې شاول (چې وروسته پولس ونومول شو) مخکې له دې چې په مسيح ايمان راوړي له کاهنانو څخه يې رسمي اجازه ليک ترلاسه کړ چې مسيحيان ګرفتار کړي او هغوی د شکنجې او زورونې لاندې ونيسي. خو مسيحيان سره له دې چې پوهيدل چې هغوی ممکن ګرفتار شي او په زندان کې به پرېوزي او دا چې تر شکنجې لاندې به ونيول شي، خو بيا هم يوځای سره راټولېدل؟ هغوی په دې خاطر له يو بل سره راټولېدل چې يو بل ته يې اړتيا درلوده.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

1. داسې وګڼئ چې ستاسو يو ملګرى تاسو ته وايي چې له دې کبله چې هغه ډېر شک لري، نو نشي کولای چې يو ايماندار اوسي. د لاندنيو آيتونو څخه کوم يو کولای شي چې د هغه د تشويق او هڅونې له پاره آغېزمن وي.
   الف: مرقس ۱٤: ٦٦- ۷۲
   ب: یوحنا ۲۰: ۲٤- ۲٥
   ج: اعمال ۹: ۱- ۲

خپل ځواب د لوست له آخرې برخې سره مقایسه کړئ.

د رسولانو د اعمال د کتاب په ۱۲ برخه کې لولو چې پطرس رسول د انجيل د موعظې په خاطر زندان ته واچول شو او وروسته له دې چې د فرښتې په وسيله له زندان څخه آزاد کړای شو، نور ايمانداران يې په داسې حالت کې وموندل چې د هغه د ژغورنې له پاره په دعا بوخت وو.

تعليم ته اړتيا يو بل عامل و چې د دې سبب کېده چې ايمانداران سره راټول شي. د مثال په توګه اکيلا او پرسکله، اپلس يې خپل کور ته يووړ ترڅو هغه ته د خدای د صحيح طريقې تعليم ورکړي (اعمال ۱۸: ۲٦). پولس رسول کولسي

ايماندارانو ته لارښوونه کوي چې يوبل ته تعليم او نصيحت وکړي (کولسيان ۳: ۱٦).

کله کله ايمانداران په دې خاطر چې يو تصميم ونيسي دې ته اړتيا ليدله چې سره غونډ شي. د مثال په توګه د اعمالو د کتاب ٦: ۱" ٦ ته مراجعه وکړئ.

دغه مثالونه دا په ډاګه کوي چې اړتيا د دې سبب ګرځي چې ايمانداران سره راټول شي. همدا شان مونږ وليدل چې د مسيح پيروان يو بل ته اړتيا لري.

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

2. اکيلا او پرسکله د کوم هدف او مقصد په خاطر له اپلس سره ليدل کتل کول؟
   الف: ترڅو د هغه موعظې ته غوږ ونيسي.
   ب: هغه ته د خدای د لارې تعليم ورکړي.
   ج: په شريکه سره تصميم ونيسي.

دا ډېر د امکان څخه لېرې خبره ده چې د کورنۍ غړي دې د يو بل سره د مرستې او کومک څخه ډډه وکړي. لومړني ايمانداران هم په حقيقت کې د خدای د الهي کورنۍ غړي وو او همدا سلوک يې کاوه. کله چې د کليسا ځينو کونډو داسې ګومان کاوه چې هغوی خپله کافي اندازه برخه نه ترلاسه کوي، رسولانو د هغوی د دې ستونزې د هوارۍ له پاره يوه د حل لاره پيدا کړه (اعمال ۹: ۳۹). نور ايمانداران ميلمه پاله وو (اعمال

۱۶: ۱۵). په اصل کې کلیسا د هغو ایماندارانو څخه جوړه شوې وه چې له نورو خلکو سره یې مرسته کوله.

پولس رسول د کلیسا د نامتو خادمینو څخه یو کس و. کله چې هغه محتاجه و نو د فیلپې ایماندارانو له هغه سره مرسته وکړه او پولس رسول له هغو څخه مننه وکړه (فیلپیان ۴: ۱۴" ۱۶). دغه کسان عادي ایمانداران وو، ولې یو څه لوی خدمت یې د پولس رسول له پاره وکړ.

پولس رسول د کورنت ایماندارانو ته په خطاب کې وایي چې خدای تاسو ته ستاسو په غمونو کې تسلي درکوي ترڅو تاسو دا قدرت ولرئ چې نورو هغو کسانو ته چې په غم اخته دي، تسلي ورکړئ (دوهم کورنتیان ۱: ۴). دا یوه بله طریقه ده چې ایمانداران له یو بل سره مرسته کوي.

د رسولانو د عملونو د کتاب د لوستنې په ترڅ کې مونږ ګورو چې ایمانداران یو بل ته د تعلیم، هڅونې، تسلۍ او مرستې عامل ګرځي. کلیسا د خادمینو څخه ډکه وه چې د خلکو د اړتیاوو د پوره کولو له پاره یې کار کاوه او په دې توګه کلیسا وده کوله او د هرې ورځې په تېرېدو سره به غښتلې کېده.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

3. په ښي خوا ستون کې د خدای له کلام څخه آیتونه او د کین خواته ستون کې د ایماندارانو د راټولېدو دلایل لیکل شوي دي. تاسو کولای شئ د هر دلیل شمیره د هغه آیت مخې ته ولیکئ چې سره تړاو لري.

| | |
|---|---|
| الف: اعمال ٦: ٢- ٦... | ١) دعا کول |
| ب: اعمال ١١: ٢٢- ٢٣... | ٢) د خدای په اړه يو بل ته تعليم ورکول |
| ج: اعمال ١١: ٢٩- ٣٠... | ٣) د يوبل د مادي اړتياوو پوره کول |
| د: اعمال ١٢: ٥ و ١٢... | ۴) د يو بل هڅونه او هغو ته تسلي ورکول |
| الف: اعمال ١٤: ٢٢... | |
| ب: اعمال ١٨: ٢٦... | |

د خپلې دې مطالعې څخه مونږ دا نتيجه لاس ته راوړی شو چې د لومړنۍ کليسا غړو لکه د يو بدن په شان له يوبل سره کار کاوه. کله چې د هغوی له ډلې څخه يو تن به محتاج وو، نورو ايماندارانو به ورته دعا کوله، هغه ته به يې خواړه استول، جامې به يې ورته برابرولې او هغه له به يې تسلي ورکوله. يا که څوک د خدای له لارې څخه بې خبره وو نو هغه ته به يې تعليم ورکاوه او د خدای لاره به يې ورته ښووله. او يا که چا د مسيح د پېروۍ په لارې کې غفلت او سستي کوله، له هغه سره به يې مرسته کوله چې خپل دغه نقص پای ته ورسوي او د مسيح څخه پېروۍ ته ادامه ورکړي.

په کليسا کې به مرسته او زړه سوی وجود درلود. ايماندارانو به نور خلک په خپلو مالونو کې شريکول ترڅو ټول کسان په کافي اندازه هرڅه ولري (اعمال ٤: ٣٢- ٣٥). کله چې له کوم خطر سره مخامخ کېدل، نو د يوبل نه به يې ملاتړ او ساتنه کوله (اعمال ٩: ٢٩- ٣٠). په لومړنۍ کليسا کې د مسيح د بدن

خدمت کول په دې توګه تعبیر کېده چې د هر چا سره او مخصوصاً له هغو کسانو سره چې محتاجه دي، مرسته وشي.

## ۲- د اوسنی زمانې کلیسا

مونږ د کلیسا لغت د هغو کسانو د ټولېدو په مانا استعمالوو چې د خدای په وسیله له دنیا څخه غوښتل شوي وي ترڅو په هغه پورې اړه ولري. نو له دې کبله کلیسا یوه ودانی یا تعمیر نه دی بلکه هغه ایمانداران دي چې سره یوځای راټولېږي. که چېرې تاسو په مسیح ایمان راوړئ د هغه د کلیسا یوه برخه ګرځئ، حتی که داسې یوه ودانی هم نه وي موجوده چې تاسو په هغې کې عبادت وکړئ.

په کلیسا کې ټول ایمانداران چې په هر قوم او پرګنې پورې تعلق ولري، شاملېدای شي. ښایي ژبې سره متفاوتې وي ولې ټول په یو بدن پورې تعلق لرو. خدای غواړي چې مسیح د خپلې کلیسا له لارې نړۍ ته وپېژندل شي. په حقیقت کې دا کار په دنیا کې د هغه د زوی د کار د دوام یو مثال دی. ایمانداران باید د مسیح د ژوند او شفا پیغام بیلابیلو ملتونو ته ورسوي. دا د اوسني عصر د کلیسا له پاره د خدای هدف او مقصد دی.

مونږ پوهېږو چې د خلکو اړتیاوې بدلون نه مومي. نو له دې کبله د نننۍ کلیسا خدمت هماغه شان ترسره کېږي چې د کلیسا په پیل کې ترسره کېده. مونږ پوهېږو چې ټول دې ته اړتیا لري چې خلاصون ومومي. له دې کبله کلیسا باید مسیح د ګناهونو د بخښونکي په توګه موعظه او معرفي کړي. ایمانداران په خپل ژوند کې د خدای قدرت ته اړتیا لري. نو له

دې کبله هغوی ته ضروري ده چې د روح القدس څخه ډک شي. ټول تسلي او هڅوني ته اړتيا لري. له دې کبله کليسا بايد د مشارکت او عبادت له پاره ټاکلي وختونه ولري. ډېر خلک شفا، لارښووني او نصيحت ته اړتيا لري. خدای د دې کار دپاره شپانه (د کليسا مذهبي لارښوونکي) مکلف کړيدي.

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

4. د ايماندارانو د راغونډېدو او ناستې پاڅې تر ټولو مهم دليل عبارت دی له:

الف: د هغو خلکو له پاره دعا چې په زندان کې دي.

ب: د لومرنۍ کليسا په شان کېدل.

ج: د ايماندارانو ليدنه. د نورو نژادونو سره

هرکله چې مونږ د مسيح د بدن له لارې چې هماغه کليسا ده سره يو کېږو، مونږ قدرت مومو. دغه قدرت زمونږ سره مرسته کوي ترڅو په خپل دښمن، يعنې شيطان باندې چې هڅه کوي مونږ مايوسه کړي او ګناه ته مو راکاږي، غلبه او برې ترلاسه کړو.

کله چې مونږ د خپلو ايمانداره خويندو او ورونو سره راټولېږو، هغه کلام چې هلته موعظه کېږي او هغه روحاني سرودونه او دعا ګانې چې ترسره کېږي، هغه ټول زمونږ د غښتلتيا سبب ګرځي. هڅه ونکړئ چې د کليسا د مرستې څخه بهر مسيحي ژوندون ولرئ. د کليسا هدف زمونږ له پاره خدمت کول دي.

په کليسا کښې حقيقت بيانېږي او خلک له نورو سره يوځای دعا ګانې کوي. کليسا هغه ځای دی چې ايمانداران په مسيحي

مینې او ولولې سره د یو بل خدمت کوي، د یو بل پنډونه او بارونه زغمي او په خپلو ګناهونو اقرار کوي (یعقوب ۵: ۱۶).

خو هره غونډه او راټولېدنه په دې شکل نه ده. په اول کورنتیان ۱۴: ۲۶ کې لولو چې که چېرې داسې وي چې کله مونږ سره راټولېږو، هرڅوک یو شی د ویلو یا ترسره کولو له پاره ولري، نو بیا د غونډې مشري به څوک کوي؟ په افسیان ۴: ۱۱- ۱۶ کې لولو چې خدای د کلیسا له پاره نعمتونه ډالۍ کړي دي چې د هغو څخه یو یې مشري ده. تقریباً په هرې کلیسا کې یو کشیش یا لارښود موجود وي چې د کارونو ترتیب او تنظیم او سمبالونه ورپه غاړه ده.

ښوونکی یا معلم د خدای هغه نعمت دی چې د کلیسا له پاره ډالۍ شوی دی. ټول په ګډه سره کار کوي. "ځکه چې مونږ د خدای سره کارکوونکي یو، تاسو د خدای پټي او د خدای ماڼۍ یاست" (اول کورنتیان ۳: ۹).

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

5. په دې لاندیني عبارتونو کې د رسولانو د عملونو د کتاب پر اساس، د لومړنۍ کلیسا په اړه ځیني حقایق لیکل شوي دي. د هغو څخه کوم یو نن ورځ هم باید د اوسنۍ زمانې د کلیسا په اړه صدق وکړي؟

الف: لومړنۍ کلیسا په اورشلیم کې شروع شوه او د پطرس، یوحنا، پولس او نورو رسولانو له خوا اداره کېده.

ب: د تعليم او د دعا له پاره به سره راټولېدل.

ج: پولس رسول د ايمان راوړنې څخه مخکې د کليسا سره جفا کوله.

د: کليسا د زندان څخه د پطرس رسول د آزادۍ له پاره دعا وکړه.

و: ايماندارانو خپل مالونه له هغو کسانو سره ويشل چې محتاجه وو.

6. آيا تاسو د کومې ځانګړې کليسا غړي ياست؟ که چېرته ستاسو ځواب مثبت وي نو دغو لاندنيو پوښتنو ته ځواب ورکړئ.

الف: ستاسو کومه اړتيا د مشرانو او نورو ايماندارانو له خوا پوره کېږي؟

ب: تاسو د کومو اړتياو په پوره کولو کې له نورو ايماندارانو څخه آغېزمن ياست؟

ج: ستاسو او د نورو ايماندارانو کومې اړتياوې دي چې تر اوسه پورې نه دي پوره شوي؟

## ځېل ځوابونه مقایسه کړئ

۴) ج

۱) ب

۵) ب، ج

۲) ب

۶) ستاسو د خپلې خوښې ځواب. آیا د هغو اړتیاوو لست مو تیار کړی دی چې باید رفع شي؟ د دې کتاب د مطالعې په ترڅ کې دعا وکړئ چې خدای ستاسو سره مرسته وکړي تر څو وګورئ چې آیا داسې کومه اړتیا شته چې تاسو د هغې په پوره کولو کې آغیزمن یئ؟

۳) الف) ۵

ب) ٤

ج) ۳

د) ۱

# د خادمینو له پاره د خدای نقشه

آلبرت هغه دلایل چې د ایماندارانو د راټولېدو سبب ګرځېدل مطالعه کړل. هغه ولیدل چې ډېرې داسې اړتیاوې دي چې د ایماندارانو د راټولېدو سبب ګرځي. دغه اړتیاوې عبارت دي له تعلیم، هڅونې، مادي مرستې، مشرې او غبنتلتیا. خو آلبرت دې ته لېواله و چې پوه شي چې کلیسا د دې اړتیاوو د پوره کولو له پاره باید څرنګه کار وکړي. په حقیقت کې هغه غوښتل چې پوه شي چې د کلیسا بېلابېلې برخې څرنګه کولای شي چې له یو بل سره همکاري ولري.

آلبرت هماغه شان چې د کلیسا په اړه یې خپلې مطالعې ته ادامه ورکوله، د داسې نمونو سره هم مخامخ شو چې له هغه سره یې د خدای د هغې نقشې په ښه درک کې مرسته کوله چې د کلیسا له پاره یې جوړه وه. هغه همدا شان په دې پوه شو چې هره کلیسا د یوه خدمت وړتیا درلودلای شي، یعنې هغه وړتیاوې چې یو بل ته یې د خدمت کولو له پاره لري. کله چې د کلیسا غړي له خپلو دغو وړتیاوو څخه استفاده کوي، نو هغه وخت به کلیسا دا وس پیدا کړي چې هغه هدف ته ورسي چې خدای ورته په پام کې نیولی دی. هغه په دې حیران ؤ چې څرنګه کېدای شي دغه وړتیاوې په کلیسا کې موجودې وي.

تاسو کولای شئ چې د خدای د هدف په اړه چې د کلیسا له پاره یې لري او هغه خدمت چې ایمانداران یې باید ترسره کړي، ډېر مطالب کشف کړئ. هیله لرو چې د دې لوست د حقایقو زده کړه د دې سبب وګرځي چې تاسو هم د خدای د هغې نقشې یوه برخه شئ چې د خپلې کلیسا له پاره یې لري.

## هغه څه چې په دې لوست کې به یې ولولئ

۱- د کلیسا په اړه درې تشبیه ګانې
۲- بدن د کار او فعالیت په حال کې

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- د کلیسا درې تشبیه ګانې تشریح کړئ.
- د بدن یعنی د کلیسا د سر په صفت د مسیح نقش تشخیص کړئ.
- هغه خدمتونه ذکر کړئ چې ایمانداران یې د مسیح د بدن د غړو په توګه په غاړه لري.

## ۱- د کلیسا په اړه درې تشبیه ګانې

### الف: یوه ډوډۍ

د ډوډۍ ماتول د نوي لوظنامې د لیکلو په دوران کې، د کورونو یو معمولي دود او دستور و. پولس رسول کلیسا د ډوډۍ سره تشبیه کړې ده، ځکه هر څوک پوهېده چې ډوډۍ څه

شی دی. د پولس د زمانې د ايماندارانو په څېر، نن ورځ مونږ هم کولای شو دا درک کړو چې د دې تشبيه څخه د پولس مقصد څه و. "مونږ ډېر خو يو، بيا هم لکه څنګه چې ډوډۍ ده، همدغه شان لکه د يو بدن په شان جوړېږو ځکه چې مونږ ټول په هغې يوې ډوډۍ کې شريکېږو" (اول کورنتيان ۱۰: ۱۷). کله چې مونږ د مسيح سره يو کېږو، په حقيقت کې له ټولو ايماندارانو سره هم يو کېږو او يوه ډوډۍ جوړېږو.

دا څومره د ارزښت وړ ده چې مونږ د نورو ايماندارانو سره د يو بدن غړي يو. که څه هم زمونږ شمېره زياته ده ولې ټول يو بدن يو. دغه بدن له يوې ډوډۍ سره تشبيه شوی دی. يوه ډوډۍ د اوړو، مالګې او اوبو له ترکيب څخه منځ ته راځي. مونږ نشو کولای چې دغه ترکيب سره بيل کړو او يا هغه په جلا جلا توګه وګورو. د مسيح بدن هم همدا شان دی.

هره ماده چې د ډوډۍ په ترکيب کې شامله ده هغه د ډوډۍ د جوړيدلو له پاره ضروري او لازمي ده، يعنې د کُل يو جزء دی. کليسا هم په دقيقه توګه همداسې ده. هر ايماندار په حقيقت کې د کُل يو غړی کيږي که څه هم له نورو سره متفاوت دی خو د کليسا د کاملتوب سبب ګرځي.

## ب: يو عمارت يا ودانۍ

هماغسې چې پولس رسول کليسا له ډوډۍ سره مقايسه کوي، د مقدس کتاب يو بل ليکوال هغه له يو عمارت يا ودانۍ سره تشبيه کوي. د اسرائيلو په زمکه کې کاڼی د اکثرو کورونو د

ودانۍ اصلي ماده وه. نو دا كاملاً يوه طبيعي خبره وه چې كله پطرس رسول د ودانۍ په اړه خبرې كوي دفعتاً كاڼي د هغه په ياد كې راځي. پطرس رسول د خپلې لومړۍ رسالې په ۲: ٤- ۵ كې وايي چې ايمانداران لكه د ژونديو كاڼو په څېر دي چې د روحاني ودانۍ د جوړښت له پاره كارول كېږي. پام وكړئ چې كه څه هم كاڼي ډېر دي خو ټول د «يوه» عمارت يا كور د جوړولو له پاره كارول كېږي. په همدې توګه كه څه هم د ايماندارانو تعداد زيات دى، خو ټول فقط «يوه» كليسا جوړوي.

همدا شان په اول كورنتيان ۳: ۹ كې لولو چې مونږ د خداى عمارت يا ودانۍ يو. په حقيقت كې مونږ د خداى د استوګنې له پاره يو مكان يو. دا كاملاً صحيح خبره ده چې خداى په مونږ هر يوه كې، چې ايماندار يو، ژوند كوي. خو د دې حقيقت تشخيصول هم مهمه ده چې ټول ايمانداران په ګډه سره هغه روحاني عمارت جوړوي چې خداى پكې استوګنه كوي.

## ج: يو بدن

د كليسا دريمه تشبيه دا ده چې هغه له بدن سره مقايسه شوې دى (افسسيان ۱: ۲۳، روميان ۱۲: ٤، ۵).

د مسيح بدن فقط په يوه مكان كې د يوې ډلې ايماندارانو يوځاى كېدل نه دي. د مسيح د بدن غړي د مختلفو برخو سره مشابهت لري چې له يو بل سره كار كوي. كه څه هم دغه غړي له يو بل سره مختلف دي، خو بيا هم په هدف او انګېزې كې سره سره يو دي. له همدې كبله بدن فقط د يو غړي په مفهوم نه دى

بلکه یو پېچلی واحد دی. د مسیح بدن یا په بل عبارت "کلیسا" یو بدن دی چې غړي یې له یو بل سره کار کوي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

1. د لاندنیو آیتونو څخه کوم یو کلیسا له یو عمارت سره مقایسه کوي؟

الف: رومیان ۱۲: ٤ او ٥

ب: اول کورنتیان ۳: ۹

ج: اول کورنتیان ۱۰: ۱۷

د: افسسیان ۱: ۲۳

و: اول پطرس ۲: ٤- ٥

2. د کلیسا له دریو تشبیهاتو څخه هر یو په اصل کې د کلیسا په اړه د یو حقیقت ښکارندوی دی. د هرې تشبې شماره د هغه حقیقت مخې ته ولیکئ چې بیان شوی دی.

الف: په یوه مکان کې د خدای استوګنه...

ب: مختلف غړي له یو بل سره کار کوي....

ج: یووالی او اتحاد...

۱) یوه ډوډۍ

۲) یو عمارت یا ودانۍ

۳) یو بدن

## ۲-بدن د کار او فعالیت په حال کې

د خدای د عجیبه کارونو څخه یو د انسان بدن دی. د انسان

بدن دا قابلیت او وس لري چې د ناروغۍ او یا صدمې په صورت کې، د خپل ځان د شفا او روغتیا سبب وګرځي.

د مسیح بدن یا کلیسا هم همدا قابلیت لري. کله چې ستونزې منځ ته راځي، کلیسا دا وس لري چې د روح القدس له لارې ځانله شفا ورکړي. کله چې هر غړی خپله دنده ترسره کوي، کلیسا دا وس پیدا کوي چې په ښه توګه عمل وکړي. خدای غواړي چې کلیسا د سالم بدن په شان وي.

راځئ وګورو چې د مسیح بدن څرنګه کار کوي.

**الف: مسیح سر دی**

په مقدس کتاب کې د یو بل سره او د مسیح سره د ایماندارانو د همکارۍ د څرنګوالي د بیان له پاره د بدن له تشبیه څخه استفاده شوې ده. د سر نه پرته بدن ژوندی نه دی. سر په بدن کې ډېر مهم رول لري. د کلیسا سر عیسی مسیح دی.

د انسان په بدن کې سر د ټول بدن لارښوونکی دی او د دې سبب ګرځي چې ټول غړي په پوره هم غږۍ سره عمل وکړي. سر د بدن فعالیتونه هم کنترولوي. کله چې بدن کوم شي ته اړتیا لري، سر له هغې نه با خبره وي. په همدا شان مسیح هم د بدن د سر په صفت، د بدن بېلابېل غړي کنترولوي ترڅو د یوبل سره کار وکړي او همدا شان د یوبل سره مرسته وکړي.

کېدای شي یو ورور په کوم مصیبت او رنځ اخته وي او مرستې ته اړتیا ولري. مسیح د کلیسا د سر په توګه د بدن نورو غړو ته حکم کوي چې دغه رنځور غړي ته دعا وکړي. کله چې

يو ښوونکی دې ته چمتو کېږي چې د مقدس کتاب څخه يو درس پر مخ يوسي، هغه دعا کوي او مسيح د هغه لارښوونه کوي او داسې افکار د هغه په ذهن کې راځي چې د درس ورکولو په وخت کې له هغه سره مرسته کوي. دا د يو سر په صفت د مسيح چلند دی. کله کله مسيح مونږ ته هدايت راکوي ولې مونږ نه غواړو هغه څه چې هغه وايي، ترسره کړو. په نتيجه کې کليسا نشي کولای خپل کار ترسره کړي. داسې يوه قصه ده چې وايي يوې ميرمنې ته لارښوونه شوې وه چې د خپلې يوې خپلوانې سره چې بې وزلې وه مرسته وکړي. هغې تصميم نيولی ؤ چې د خدای له دې لارښوونې څخه اطاعت وکړي. خو هغه تل د خپل کور په کارونو کې بوخته وه. پس له دريو ورځو څخه هغې دا موقه پيدا کړه چې يو څه پېسې يوې اړوندې ښځې ته چې د يوې کورنۍ مور وه ورکړي. نومورې مور په داسې حال کې چې له سترګو څخه يې اوښکې بهېدلې، ويې ويل: "آه، ډېره مننه، دا درې ورځې کېږي چې مونږ د خوراک له پاره څه نه لرو او اوس خدای زما دعا ګانې قبولې کړې."

مسيح د يوه سر په صفت، خپلې کليسا ته ځينې نعمتونه ډالۍ کوي ترڅو ټولې هغه اړتياوې چې کليسا يې د خپلې دندې د ترسره کوونې له پاره لري، پوره کړي. مخکې له دې چې مسيح آسمان ته پورته شي، هغه ژمنه وکړه چې روح القدس به واستوي او د پنطيکاست په ورځ روح القدس واستول شو (د اعمالو کتاب لومړی او دوهم فصل). د کليسا د غړو په توګه خدای غواړي چې مونږ هريو روح القدس ترلاسه کړو (اعمال ۲: ۳۸- ۳۹).

کلیسا باید له مسیح سره چې سر دی همکاري وکړي، ترڅو هغه څه چې مسیح غواړي هغه ترسره کړي. کله چې مونږ د کلیسا د غړو په توګه دعا کوو، روح القدس زمونږ سره مرسته کوي ترڅو پوه شو چې مسیح زمونږ څخه څه غواړي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

3. د مسیح او کلیسا ترمنځ اړیکې د هغو اړیکو سره مقایسه شویدي چې د سر او د بدن ترمنځ وجود لري، ترڅو دا وښیئ چې:
الف: کلیسا باید د مسیح له خوا هدایت شي.
ب: د بدن هر غړی متفاوته عملکرد لري.
ج: د سر نه پرته د انسان بدن د استفادې وړ نه دی.

### ب: ایمانداران بدن جوړوي

مسیح د خپل بدن یعنې کلیسا له لارې په نړۍ کې خپل کار ته ادامه ورکوي. خدای د خپل بدن غړو ته مختلف نعمتونه او خدمتونه ډالۍ کړیدي ترڅو وکولای‌شي د شیطان سره مقابله وکړي. کله چې هر غړی له روح القدس څخه ډکېږي او اجازه ورکوي ترڅو د مسیح ژوند په هغه کې جاري شي، کلیسا د خپلو کارونو د ترسره کولو له پاره قوت مومي.

اجازه راکړئ چې دغه نعمتونه او خدمتونه وڅېړو. دا په اصل کې هغه تجهیزات دي چې زمونږ سره مرسته کوي ترڅو د خدای کار ترسره کړو.

د دې نعمتونو څخه ځيني په افسسيان ٤: ١١، روميان ١٢: ٦- ٨ او اول کورنتيان ١٢: ٨- ١٠ کې ليکل شويدي. دغه برخې ولولئ او دا لاندېني توضيحات په ځير سره مطالعه کړئ.

1) رسول هغه څوک دی چې خدای هغه د نوې کليسا د پرانيستنې په خاطر استوي.

2) نبي هغه څوک دی چې د خدای کلام بيانوي.

3) مبشر يا زېری ورکوونکی بيلابيلو سيمو ته ځي او د انجيل موعظه کوي.

4) کشيش، د کليسا مشري په غاړه لري، بالکل لکه د رمو د کشيش په څېر چې خپله رمه ساتي.

5) معلم د خدای کلام توضيح کوي.

6) تشويق کوونکی هغه چا ته ويل کېږي چې نورو ته نصيحت کوي او هغوی هڅوي چې خدای ته نږدې شي.

7) خدمت کول د پالنې او غمخورۍ په مانا دی.

8) بخښل د پيسو، وخت او توانايۍ د ورکړې په مانا ده چې نورو ته د انجيل د زېري د رسېدنې په مقصد صورت مومي.

9) هغه نفر چې مشر او رهبر دی بايد په حکمت سره خپل د لاس لاندې خلک رهبري او هدايت کړي.

10) رحم کوونکی هغه چا ته ويل کېږي چې محتاجو خلکو سره ځانګړې مرستې کوي.

11) هغه څوک چې د حکمت کلام لري هغه په حقيقت کې

نصیحت او یا ګټورې او لار پرانستونکې خبرې کوي.

12) د علم کلام د یوې خاصې اړتیا له پاره د خدای د هدایت په مطابق، د اطلاعاتو او واقعیتونو څخه استفاده کول دي.

13) ایمان په خدای باندې د قوي اعتماد د لرلو څخه عبارت دی.

14) د شفا قدرت عبارت له هغه وړتیا څخه دی چې د ناروغ له پاره د آغېزمنې دعا په منظور صورت مومي.

15) د معجزاتو قوت عبارت له هغو خارق العاده کارونو څخه دی چې د طبیعت د قوانینو برخلاف صورت مومي.

16) هغه څوک چې نبوت کوي هغه د نورو خلکو د جوړونې، تسلۍ او هڅونې سبب ګرځي.

17) د ارواحګانو پېژندنه د هغه نعمتونو ترمنځ تشخیص دی چې د روح القدس له اړخه دي او یا د روح القدس له اړخه نه دي. او همدا شان د دې خبرې تشخیص چې آیا د خدای روح حضور لري او که نه.

18) په ناپېژندل شویو ژبو د غږېدلو یا خبرې کولو توانایي، په هغو ژبو د خبرې کولو له قدرت څخه عبارت دی چې روح القدس یې ورته ډالۍ کوي او خبرې کوونکي نفر ته د درک قابل نه دي.

19) د نورو ژبو ترجمه کول د هغه وړتیا څخه عبارت دی چې هغه خبرې نورو ته تشریح کوي چې په نا بلده ژبې ویل شوي دي.

کله چې دغه نعمتونه په ایماندارانو کې فعال وي، کلیسا برکت مومي او قوي کېږي او د خدای کار ترسره کېږي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

4. د هر نعمت شمېره د هغې ستونزې په مقابل کې ولیکئ چې د هغې د هوارولو له پاره هماغه نعمت ته اړتیا لیدل کېږي.

الف: ګلالۍ د ناامیدۍ او خفګان احساس کوي....

ب: اجمل ډېر سخت ناروغ دی....

ج: ناصر په مقدس کتاب باندې نه پوهېږي...

د: د طاهر کورنۍ کالیو ته اړتیا لري...

و: تورپیکۍ دې ته اړتیا لري چې د خدای د نعمتونو په اړه څه مطالب زده کړي...

١) تعلیم
٢) نصیحت او هڅونه
٣) د شفا قدرت
٤) رحم کوونکی

5. په لاندینیو فعالیتونو کې دا په ګوته کړئ چې کوم یو د سر په مقام کې د مسیح له خوا ترسره کېږي او کوم یو د بدن د غړي په عنوان د ایماندارانو له خوا.

الف: د دې سبب ګرځي چې غړي د یو بل له پاره دعا وکړي...

ب: نور کسان هڅوي او هغو ته نصیحت کوي ترڅو خدای ته نږدې شي....

ج: دا تشخیصوي چې آیا په خاصو شرایطو کې روح القدس حضور لري او که نه...

الف: کلیسا غړو ته نعمتونه او خدمتونه ډالۍ کوي....

ب: یو ایماندار ته یو پیغام ورکوي ترڅو هغه له نورو ایماندارانو سره شریک کړي...

۱) مسیح د بدن د سر په توګه

۲) ایمانداران د بدن د غړو په توګه

## ځيل ځوابونه مقايسه کړئ

۳) الف

۱) ب، ه

٤) الف) ۲

ب) ۳

ج) ۱

د) ٤

ه) ۱

۲) الف) ۲

ب) ۳

ج) ۱

٥) الف) ۱

ب) ۲

ج) ۲

د) ۱

ه) ۱

**ستاسو یادداشت**

**څلورم لوست**

# زه هم کولای شم چې خادم واوسم

آلبرت اوس د کلیسا او د هغې د خدمتونو په اړوند په هر هغه څه پوهېږي چې خدای د هغې د هر یو غړي له پاره ورکړي دي. د هغې مطالعې په مطابق چې آلبرت يې د کلیسا په اړوند لري، هغه اوس دې ته متوجه شوی دی چې د کلیسا ټول غړي یو ډول خدمت نه لري. داسې کسان شته چې موعظه کوي او تعلیم ورکوي، ځیني نور بیا د حکمت کلام او د علم کلام لري او ځینې هم خدمت کوي او یا بخښونکي وي. هغه دا حقیقت درک کړ چې کولای شي په ډېرو طریقو سره خپلو هغو خویندو او ورونو ته چې په خدای کې استوګنه کوي، خدمت وکړي.

آلبرت سره د دې چې په دې پوه شو چې ډېر داسې خدمتونه شته چې هغه يې سرته رسولای شي، ډېر نور مطالب هم شته چې هغه غواړي د هغو په اړوند پوهه حاصله کړي. هغه غوښتل چې پوه شي چې څرنګه کولای شي د خدای له پاره کار وکړي؟ څرنګه کولای شي دا تشخیص کړي چې خدای هغه ته کوم نعمتونه په پام کې نیولي دي او په کومې طریقې سره کولای شي چې دغه نعمتونه له خدای څخه ترلاسه کړي.

ښایي تاسو په دې اړوند پوښتنې ولرئ. ښایي اوږده موده کېږي چې تاسو په مسیح ایمان راوړی وي، خو داسې فکر کوئ

چې هغه مخصوص خدمت چې تاسو يې بايد ترسره کړئ وجود نلري. مګر خدای ستاسو له پاره يو ځانګړی خدمت په پام کې نيولی دی. د کورنتيانو د لومړۍ رسالې په ۱۲: ۷ کې داسې لولو: "خو هر چا ته د روح القدس ظاهرېدل د ټولو خلکو د فايدې دپاره ورکړای کېږي." هيله من يو چې د دې لوست حقايق له تاسو سره مرسته وکړي ترڅو هغه ځانګړی خدمت کشف کړئ چې کولای شئ د مسيح په بدن کې يې ترسره کړئ.

## هغه څه چې په دې لوست کې به يې ولولئ

۱- د خادمينو له پاره ځانګړی قوت

۲- د خادمينو له پاره نعمتونه

۳- ستاسو له پاره يو نعمت

٤- خپل نعمت ترلاسه کړئ

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- دا توضيح کړای شئ چې ولې مسيحي خادمين الهي ځانګړې مرستې ته اړتيا لري.
- ايماندارانو ته د خدمت د نعمتونو په ډالۍ کولو کې د خدای ونډه بيان کړئ.
- د خدمت د نعمتونو په ترلاسه کولو کې خپله ونډه بيان کړئ.

## ۱- د خادمينو له پاره ځانګړی قوت

### الف: يوه لويه او مهمه دنده زمونږ په غاړه ده

مسيح د متی په انجيل کې فرمايي: "تاسو په زمکه خواره شئ او ټول قومونه زما مريدان کړئ... او دا تعليم ورکړئ چې په هغو ټولو خبرو عمل وکړي چې ما تاسو ته حکم کړی دی..." (متي ۲۸: ۱۹ او ۲۰).

دا دی زمونږ لويه او مهمه دنده: مريدان (شاګردان) جوړول او هغو له تعليم ورکول.

د نړی ډېرو خلکو الهي نجات نه دی ترلاسه کړی. مسيحي خادمين دا دنده لري چې مرسته وکړي ترڅو عادي خلک د انجيل پيغام واوري. مونږ نشو کولای چې د دې ستر حکم په عملي کولو کې غفلت وکړو. مسيح دا حکم ځکه خپلو پېروانو ته ورکړ چې له هغې څخه اطاعت وکړي. دا يوه ستره او مهمه دنده ده. مونږ د دې دندې د ترسره کولو دپاره ځانګړې مرستې ته اړتيا لرو.

### ب: مونږ دښمن داره يو

د دې ترڅنګ چې مونږ د خدای کار ترسره کوو بايد په دې هم پوه شو چې مونږ يو دښمن هم لرو. زمونږ دښمن شيطان دی چې غواړي د خدای د کار د ناکامۍ او ماتې شاهد وي. مونږ په يواځې ځان نشو کولای چې پر هغه غلبه ترلاسه کړو. که چېرې مسيحي خادمين له ماتې سره مخامخ شي نو د خدای کار نقصان مومي. له همدې کبله شيطان زيار باسي چې په مسيحي خادمينو باندې يرغل وکړي.

آیا د "شمشون" داستان مو په یاد دی چې د قاضیانو د کتاب په ۱٦ فصل کې راغلی دی؟ د شمشون اوږده وېښتان د دې نښه وه چې هغه له دې له پاره غوره شوی دی چې د خدای په خاطر یو ځانګړی کار ترسره کړي. مګر هغه د خدای د بلنې په اړوند بې پروا ؤ. کله چې شمشون په خوب ویده ؤ نو "دلیلې" د هغه ویښتان غوڅ کړل. کله چې هغه له خوبه ویښ شو په پښو ودرید او داسې ګومان یې وکړ چې کولای شي د پخوا په څېر له هر دښمن سره مقابله وکړي. مګر هغه خپل قدرت له لاسه ورکړی ؤ. هغه نور په خپل وجود کې د خدای مرسته نه درلوده. هغه په خپلو دښمنانو باندې د برلاسۍ وس نه درلود.

## ج: زمونږ سره د خدای قدرت موجود دی

له هغه ځایه چې زمونږ دنده او ماموریت خطرناکه او زمونږ دښمن قوي دی، خدای د دې دندې د سرته رسولو له پاره یو ځانګړی مرستندوی زمونږ په واک کې راکړی دی. مسیح خپلو شاګردانو ته یو لوی مسئولیت سپارلی دی (مرقس ۱٦: ۱۵). خو په عین حال کې له هغو سره ژمنه کوي چې هغه قدرت به هغو له ورکړي چې د مسیح له خوا د سپارل شوې دندې (د هغه له پاره ګواهي ورکول) د ترسره کولو له پاره ورته اړتیا لري (اعمال ۱: ۸). نن ورځ مونږ هم کولای شو چې د روح القدس قدرت ولرو.

خدای غواړي چې نړۍ خلاصون ترلاسه کړي. هغه په دې کار کې له خادمینو څخه استفاده کوي. ځکه خدای په دې پوهېږي چې هغوی مرستې ته اړتیا لري، له همدې کبله هغوی

ته روح القدس ډالۍ کوي. هغه هماغه مرستندویه ملګری دی چې خادمین ورته اړتیا لري. خدای مونږ ته قدرت ډالۍ کوي او مونږ له دې قدرت څخه په استفادې سره د هغه خدمت کوو.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

1. په کومو لاندنیو آیتونو کې مونږ لولو چې خدای د خپل کار د سرته رسولو په مقصد خپل قدرت مونږ ته ډالۍ کوي.

الف: متي ۲۸: ۱۹

ب: مرقوس ۱٦: ۱۵

ج: اعمال ۱: ۸

2. د مسیحي خادمینو له پاره د ځانګړې مرستې سرچینه ....................................................................

الف: هغه قدرت دی چې د روح القدس څخه یې ترلاسه کوي.

ب: هغه شوق او ولوله ده چې د خدای له خدمت سره یې لري.

ج: د هغه خدمت سرته رسول دي چې د هغې له پاره غوره شویدي.

## ۲- د خادمینو له پاره نعمتونه

خدای د مطلقې پوهې او حکمت خاوند دی. هغه کولای شي هغه کار وګوري چې باید ترسره شي، او په همدا شان خپل

خادمین. خدای په خپل حکمت سره دا وس لري چې مناسب کس د مناسب ځای له پاره غوره کړي. له همدې کبله هغه مونږ هریو ته دا بلنه ورکوي چې د هغه له پاره خدمت وکړو.

ځیني وخت کله چې مونږ د خدای د کلام په لوستلو بوخت یو، هغه خپله دغه بلنه مونږ ته وړاندې کوي. روح القدس دا قدرت لري چې د خدای کلام مونږ ته الهام کړي. هغه داسې چې دغه کلام مونږ ته د خدای د آواز په شان وګرځوي او زمونږ په زړونو کې انګازې وکړي.

خدای همدا شان کولای شي د دعا پر وخت زمونږ په زړونو باندې بار کېږدي. ممکن زمونږ په زړونو کې د هغه ځای په اړه یوه لیوالتیا منځ ته راولي چې هلته د انجیل د پیغام آوریدو ته اړتیا لیدل کېږي او په خپل زړه کې دا احساس کړو چې خدای زمونږ څخه غواړي چې هلته لاړ شو او خدمت وکړو.

امکان لري کله چې ایمانداران په ډله ایزه توګه د خدای په حضور کې قرار لري، یو کس د خدای خدمت ته وبلل شي. په اعمال ۱۳: ۲ کښې روح القدس د مکدونیې کلیسا ته وفرمایل: "هر کله چې هغوی د مالک عبادت کاوه او روژې یې نیولې نو روح القدس ورته وویل: برنابا او شاول زما د پاره هغه کار ته جدا کړئ د څه د پاره چې ما هغوی رابللي دي."

خدای ټول خلک د یو واحد کار او یا خدمت له پاره نه رابولي. د مثال په توګه یو سوداګر به هیڅکله موعظه ونکړي او یا تعلیم به ورنکړي. هغه له خدای سره مینه لري او غواړي د

خدای کار پر مخ یوسي. په نتیجه کې خدای له هغه څخه غواړي چې د خپل هماغه تجارتي کارونو په ترڅ کې د مسیح له پاره ګواهي ورکړي. د کور یوه میرمن امکان لري چې په کور کې پاتې شي او د کور چارې پر مخ یوسي او خدای له هغې څخه غوښتنه وکړي ترڅو په خپل کور او ګاونډ کې یوه دینداره ښځه وي او له خدای څخه وېره ولري او خپلو ګاونډیانو او نورو کسانو ته چې ورسره ګوري، د مسیح په اړه ګواهي ورکړي.

داسې هیڅوک نشته چې د هغه په اړه د خدای بلنه وجود ونلري. دقیقاً په هماغه توګه چې انسانان سره مختلف دي، دعوتونه یا بلنې هم مختلفې بڼې لري. خدای تاسو ته د یو مسیحي خادم په توګه اړتیا لري. کله چې احساسوئ چې روح القدس ستاسو زړونو سره خبرې کوي، نو هغه ته پام وکړئ.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

3. داسې وګڼئ چې ستاسو یو ملګری ستاسو څخه پوښتي چې خدای په کومې طریقې سره خلک د خپل خدمت له پاره رابولي. خپل د یادداشت په کتابچه کې کم تر کمه هغه درې لارې او طریقې ولیکئ چې خدای د هغې له لارې خلکو ته د خدمت له پاره بلنه او دعوت ورکوي.

### الف: خدای مونږ مجهز کوي

کله چې انسان د خدای بلنه احساسوي نو دا قدرت به هم

پیدا کړي چې د هغه څخه اطاعت وکړي، دا ځکه چې خدای هغه نعمتونه خپلو خادمینو ته ډالۍ کوي چې د خدمت له پاره لاژمي دي. مونږ دغه نعمتونه د دریم لوست په ترڅ کې وڅېړل.

د روح القدس نعمت د پنطیکاست په ورځ ډالۍ شو چې په حقیقت کې لومړنۍ ډالۍ وه. ښایي وکړای شو چې ډېر کارونه سرته ورسوو مګر د روحاني کارونو له پاره د روح القدس مرستې ته اړتیا لرو.

د یوې ډالۍ په توګه، روح القدس داسې کوم شی نه دی چې مونږ وکړای شو هغه په خپلو شخصي هڅو سره ترلاسه کړو. یو نعمت له دې امله ډالۍ کېږي چې یو کس ورته اړتیا لري. خدای د مسیحي خادمینو له پاره نعمتونه ډالۍ کوي ځکه هغوی ورته اړتیا لري. په افسسیان ٤: ٧ کې لولو: "او په مونږ کې هر یو ته د مسیح د بخښنې د اندازې په مطابق نعمتونه راکړای شوي دي."

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

4. خدای د خپل کار د سرته رسولو په خاطر خپل خادمین څرنګه مجهز کوي؟

الف: د هغوی په زړونو کې د یو بار د ایښودلو له لارې.

ب: هغوی څخه د بلنې له لارې ترڅو هغه ته خدمت وکړي.

ج: هغوی ته د هغو نعمتونو د ډالۍ کولو له لارې چې ورته اړتیا لري.

## ۳- ستاسو دپاره يو نعمت

### الف: خدای زمونږ نعمتونه غوره کوي

مخکې مو وويل چې خدای کولای شي يو مناسب کس د يوې مناسبې دندې له پاره وګماري. دغه جمله د دريو شيانو څرګندوونکې ده.

۱) خدای په دې پوهېږي چې زه کوم کار سر ته رسولای شم.

۲) خدای پوهېږي چې زه کومو نعمتونو ته اړتيا لرم.

۳) خدای هماغه نعمتونه ما ته ډالۍ کوي.

د مثال په توګه: داسې په پام کې ونيسئ چې يوه کليسا کشيش ته اړتيا لري. خدای له دې غوښتنې څخه باخبره دی. په ګاونډي ښار کې د "ادوارد" په نامه يو ايماندار په دعا لګيا دی ترڅو پوه شي چې د خدای له پاره کوم خدمت ترسره کولای شي. هغه د نومړې کليسا له غوښتنې څخه باخبره دی او داسې احساسوي چې خدای له هغه څخه غواړي چې خپل ځان د هماغې کليسا د کشيشتوب له پاره وقف کړي. خدای څرنګه کولای شي چې د کشيشتوب د دندې په پرمخ بيولو کې له ادوارد سره مرسته وکړي. خدای هغه ته هغه نعمتونه ډالۍ کوي چې د خدمت په کار کې ورته اړتيا لري. خو له دې سره سره ادوارد ته هم پکار ده چې د خدای د هغو نعمتونو د پراختيا او تيارۍ له پاره خپله هڅه او هاند وکړي چې خدای ورته ورکړي دي. ښايي د مقدس کتاب يو درسي ټولګی موجود وي چې هغه

وکړای شي د تعلیم د ترلاسه کولو له پاره هلته ورشي. او یا هم وکړای شي د مقدس کتاب درسونه د مکاتبې له لارې ولولي.

له هغه ځایه چې خدای زمونږ سره دی نو مونږ ته بلنه راکوي چې د هغه خدمت وکړو او دا تشخیصوي چې کومو نعمتونو ته اړتیا لرو. هغه نعمتونه چې خدای یې ډالۍ کوي دخادم او د هغه د هغه خدمت سره متناسب دي چې هغه یې ترسره کوي. خدای پوهېږي چې کوم نعمتونه زمونږ د خدمتونو په چارو کې د اهمیت وړ دي او همدا شان په دې هم پوهېږي چې کوم نعمتونه زمونږ له پاره مناسب دي. هغه کولای شي چې زمونږ څخه ښه تشخیص ولري او مونږ کولای شو په خدای باور وکړو چې هغه کولای شي هغه صحیح ټاکنه ترسره کړي. کله چې هغه مونږ ته کوم نعمت ډالۍ کوي دا په دقیقه توګه هغه څه دي چې مونږ د خدای د خدمت له پاره هغې ته اړتیا لرو، هغه خدمت چې خدای زمونږ له پاره په پام کې نیولی دی.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

5. دا لاندینۍ جمله بشپړه کړئ.

له هغه ځایه چې خدای پوهېږي چې زه کوم خدمت سرته رسولای شم، نو ...................................................

## ب: خدای زمونږ له نعمتونو څخه استفاده کوي

خدای مونږ ته ځانګړې وړتیاوې ډالۍ کړي دي تر څو د هغه خدمت وکړو. هغه زمونږ د دې وړتیاوو څخه استفاده کوي.

همدا شان خدای کولای شي چې زمونږ له هرې هغې پوهې او یا استعداد څخه ګټه واخلي چې مونږ یې د هغه له پاره وقفوو. د مثال په توګه، داسې فرض کړئ چې یو نفر دی چې د مسیح ډېر ښکلي تصویرونه کاږي. که چېرې دغه نفر خپل دا استعداد د خدای د پاره وقف کړي، خدای کولای شي چې د هغه څخه د کلیسا د برکت د عامل په توګه استفاده وکړي. دا نفر کولای شي چې داسې تصویرونه وکاږي چې په کلیسا کې ځوړند شي. او یا کولای شي داسې رسمونه و کاږي چې د ښوونکي سره د درس په جریان کې مرستندوی وي. او په دې توګه د هغه استعداد کولای شي د کلیسا له پاره په یو نعمت بدل شي.

هر استعداد او یا هر نعمت چې ولرئ، خدای پاک قادر دی چې له هغې څخه ګټه واخلي. په رومیان ۱۶: ۱ او ۲ کې د «فیبي» په نامه د یوې خادمې په اړه لولو. مونږ نه پوهېږو چې هغې څه کار کاوه، خو خدای له هغې څخه کار واخیست، ځکه پولس رسول د هغې په اړه داسې وایي: "... ځکه چې هغه هم د ډېرو مرستندویه وه بلکه زما سره یې هم مرسته کړې ده" (رومیان ۱۶: ۲). دا مهمه نه ده چې د یو مسیحي خادم سره کوم ډول نعمتونه شته، خدای کولای شي هغوی ته برکت ورکړي او هغه د بدن یعنې د کلیسا د استفادې وړ وګرځوي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

6. صحیح جملې په نښه کړئ:

الف: له هغه ځایه چې مونږ پوهېږو چې د خدای له پاره

کوم کار باید سرته ورسوو، اوس دا په مونږ ده چې په ډاګه کړو چې کومو نعمتونو ته اړتیا لرو.

ب: څرنګه چې دا په خدای پورې اړه لري چې تشخیص کړي چې د کوم خدمت له پاره مونږ ته بلنه راکوي، بیا هغه په خپله دا په ډاګه کوي چې کوم نعمتونه مونږ ته ډالۍ کړي.

ج: خدای د یوه ایماندار له پاره هغه ټول نعمتونه ډالۍ کوي چې د خدمت په دوران کې ورته اړتیا لري.

د: څرنګه چې خدای په خپله مونږ ته نعمتونه ډالۍ کوي ترڅو د هغه خدمت وکړو، نور مونږ دې ته اړتیا نه لرو چې ځانونه چمتو کړو.

## ٤ - خپل نعمت ترلاسه کړئ

پولس رسول هغو مسیحیانو ته چې په روم کې یې ژوند کاوه، لیکي چې زمونږ د عبادت یوه برخه دا ده چې خپل ځان د خدای له پاره وقف کړو (رومیان ۱۲: ۱). د زړې لوظنامې په دوران کې د قربانۍ له پاره د حیواناتو وړاندې کول د عبادتي مراسمو یوه ځانګړې برخه وه. په همدې توګه د نوې لوظنامې په دوران کې مسیحیان خپل ټول ځان د خدای د خدمت له پاره وقف کوي. تاسو باید لومړی خپل ځان د خدای له پاره وقف کړئ ترڅو وروسته وکړای شئ د هغه نعمتونه ترلاسه کړئ. تاسو باید هغه کار چې د خدای له پاره یې کوئ، تر ټولو غوره او مهم وګڼئ.

تاسو همدا شان دې ته اړتیا لرئ چې د نوې لوظنامې د مطالعې په ترڅ کې د نعمتونو په اړه فکر وکړئ او له هغو کړنلارو سره ځانونو آشنا کړئ چې د دې نعمتونو څخه د استفادې په ترڅ کې کارول کېږي او کلیسا وربانديې جوړېږي. ښه غور وکړئ چې ستاسو په کلیسا کې له دې نعمتونو څخه څرنګه کار اخیستل کېږي. فکر وکړئ چې دغه نعمتونه څرنګه کولای شي ستاسو سره د یوه مسیحي خادم په توګه مرسته وکړي.

همدا شان په دې هم پوهېدل ضروري دي چې په کوم دلیل غواړئ دغه نعمتونه ولرئ. هیڅ نعمت د یو نفر د جلال ورکولو دپاره نه ورکول کېږي. دا به لویه تېروتنه وي چې مونږ د هغو نعمتونو په لټه کې و اوسو چې نورو ایماندارانو ته وښیو چې ګنې مونږ ډېر با تقوی او روحاني خلک یو. د خپل خدمت له پاره دعا وکړئ او نعمتونه وغواړئ ترڅو د خدمت په دوران کې تاسو ته قوت درکړي او دا وس پیدا کړئ چې د نورو سره مرسته وکړئ. له هغو نعمتونو سره یې پیل کړئ چې هغې ته لیواله یئ. د هغو نعمتونو په اړه فکر وکړئ چې روح القدس غواړي ستاسو پام هغو ته واړوي.

هېر نکړئ چې دا خدای دی چې تاسو ته نعمتونه ډالۍ کوي (اول کورنتیان ۱۲: ۲۸ او افسسیان ٤: ۱۱). د نعمتونو له پاره دعا وکړئ او هغه وغواړئ، مګر انتخاب خدای ته وسپارئ.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

7. داسې فرض کړئ چې ستاسو یو دوست ستاسو څخه پوښتنه کوي چې د خدای څخه د نعمتونو د حاصلولو دپاره باید کوم کار ترسره کړي. خپل د یادداشت له کتابچې څخه هغه درې کارونه چې کولای شئ هغه ته ووایئ، ذکر کړئ.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۴) ج

۱) ج

۵) ستاسو ځواب باید داسې وي: څرنګه چې خدای پوهېږي چې زه څه خدمت ترسره کولای شم، نو هغه نعمتونه راته ډالۍ کوي چې د خدمت له پاره ورته اړتیا لرم.

۲) الف

۶) الف) غلط

ب) صحیح

ج) صحیح

د) غلط

۷) ستاسو په ځواب کې باید دا شیان شامل وي: په مکمله توګه د خدای له پاره د خپل ځان وقفول. د نعمتونو په اړه مطالعه او دا چې څرنګه کولای شو له هغو څخه استفاده وکړو. د نعمتونو غوښتنه او د هغو دپاره دعا کول.

۳) ستاسو په ځواب کې باید دغه دوه ټکي شامل وي: د خدای د کلام له لارې، د هغه بار له لارې چې خدای د دعا په وخت کې زمونږ په زړونو کې اچوي.

**ستاسو یادداشت**

پنځم لوست

# خادمتوب

البرت خوشاله ؤ، ځکه پوه شوی ؤ چې هغه هم کولای شي د خدای خدمت وکړي. په هماغه حال کې یې چې مقدس کتاب مطالعه کاوه او د دعا له پاره یې وخت بېلاوه او د خدای حضور یې غوښته، روح القدس به ورته ښودله چې څرنګه کولای شي د نورو خدمت وکړي.

له هغه څخه غوښتل شوي ؤو چې د یو ناروغ کور ته لاړ شي او د هغه له پاره دعا وکړي. آلبرت د دعا په ترڅ کې الهي مسح او د روح القدس حضور احساس کړ. یوه اونۍ وروسته آلبرت د یوه ماشوم له پاره چې تبه یې درلوده دعا وکړه او ماشوم روغ شو. هغې نه پس، د یوې یکشنبې په ورځ له یوه ایماندار سره چې د موعظې له پاره ګاونډي ښار ته تله، یوځای شو او د هغه ځای ایمانداران یې د سرودونو په لوستلو او د برکتونو په بیان کې رهبري کړل. همدا شان د تنکیو ځوانانو د تعلیم له پاره یې یو ټولګی پرانیسته او د هغه د پر مخ بیولو دنده یې په غاړه واخیسته.

هرځل چې البرت فکر کاوه چې څرنګه خدای د هر چا له پاره د خدمت اړوند نعمتونه ډالۍ کوي، ډېر به خوشاله شو. اوس چې هغه په دې پوه شوی دی چې کولای شي یو خادم وي،

غواړي چې ډېر شیان زده کړي چې په دې اړه کوم خدمت ترسره کولای شي او څرنګه کولای شي خپلو نعمتونو ته وده او پراختیا ورکړي. ښایي تاسو هم وغواړئ چې په دې اړه په ډېرو شیانو پوه شئ. د دې لوست د لوستلو په دوران کې به تاسو وګورئ چې د خدای په کلام کې د خادمینو په اړه څه ویل شوي دي. همدا شان په دې به هم پوه شئ چې څرنګه کولای شئ د خدمت په خاطر خپلو نعمتونو ته وده او پراختیا ورکړئ.

## هغه څه چې په دې لوست کې به یې ولولئ

۱- مسیح د ځان له پاره نمونه جوړ کړئ

۲- خپلو نعمتونو ته وده او پراختیا ورکړئ

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- دا واضیح کړئ چې مسیحي خادم باید کوم خصوصیات ولري.
- دا بیان کړئ چې د خپلو نعمتونو د ودې او پراختیا له پاره کوم کار سرته رسولای شئ.
- دا واضیح کړئ چې خدای له څه ډول افرادو څخه د خادم په توګه کار اخلي.

## ۱ - مسیح د ځان له پاره نمونه جوړ کړئ

### الف: خدمتګزاره اوسئ

کله چې مسیح د زمکې په مخ ژوند کاوه څه ډول یو انسان ؤ؟ د خدای کلام هغه د داسې یو انسان په توګه معرفي کوي چې د خلکو او د هغو د اړتیاوو په فکر کې ؤ. هغه یو عاجز او متواضع انسان ؤ.

په متي ۱٤: ۱۳- ۱٤ کې لولو چې کله مسیح دا واورېدل چې تعمید ورکوونکی یحیی وژل شوی دی، ډېر خواشینی شو. هغه غوښتل چې یوائې وي مګر خلک د هغه شاته روان شول. آیا کله چې هغو مسیح وموندہ، مسیح په هغو باندې په قهر او په غصې شو؟ نه. کله چې مسیح هغو ته وکتل نو پر هغو یې رحم وکړ او د هغو رنځورانو ته یې شفا ورکړه. هغه که ستړی او ستومانه هم ؤ خو د خپل پلار اراده یې ترسره کوله. له همدې کبله یو مسیحي خادم نشي کولای په دقیقه توګه هغه کار ترسره کړي چې په خپله یې غواړي. هغه د خدای خدمتګار دی او خدمتګار ته پکار ده چې د خپل ارباب اراده ترسره کړي.

د یوحنا د انجیل په ۱۳: ۱- ۱۷ کې لولو چې مسیح د خپلو شاګردانو د پښو په وینځلو سره د هغوی خدمت پرځای کړ. کله چې دغه کار یې وکړ نو هغوی ته یې وویل: "نو که ستاسو مالک او استاذ ستاسو پښې ووینځلې نو په تاسو هم لازم دي چې د یوبل پښې ووینځئ" (۱٤ آیت). له دې کبله چې د مسیح له پاره کامیاب خادمین واوسو باید د مسیح په شان کړه وړه غوره کړو،

چې وايي: "لکه چې ابن آدم د دې دپاره نه دی راغلی چې د هغه خدمت دې وکړای شي بلکه د نورو خدمت دې وکړي او خپل ژوند د ډېرو د پاره قربان کړي" (متي ۲۰ : ۲۸).

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

1. د یوحنا انجیل ۱۳: ۱- ۱۷ ولولئ. په یوې یا دوو جملو کې ولیکئ چې مسیح په ۱٦ آیت کې کوم درس غوښته خپلو شاگردانو ته زده کړي؟

## ب: د روح مېوې ولرئ

کله چې مونږ مسیح د خپل ځان له پاره نمونه جوړوو، د هغه خصوصیات زمونږ په ژوند کې لیدل کېږي. د خدای کلام دغه خصوصیات د ((مېوو)) په نامه پېژني. هغه څوک چې د روح القدس څخه مالامال شوی وي هغه مسئولیت لري چې دغه مېوې د هغه په ژوند کې ولیدل شي.

خدای نه یواځې نعمتونه د خدمت په خاطر مونږ ته ډالۍ کوي، بلکه مونږ ته قدرت هم راکوي چې خپل ځان کنترول کړو ترڅو وکړای شود هغو کسانو په قطار کې وشمېرل شو چې د خدمت کولو وس لري. هغه نعمتونه چې خدای مونږ ته ډالۍ کړي دي کولای شي چې خلکو ته د مرستې سبب شي مگر زمونږ د شخصیت منفي خصوصیات کولای شي هغې ته نقصان ورسوي. باید کلکه پاملرنه وکړو چې غرور، خودخواهي او په خپل ځان نازېدل د دې سبب نشي چې زمونږ د خدمت کولو په لارې کې خنډ وگرځي.

په دې برخه کې به د مېوو هغه فهرست تر مطالعې لاندې ونیسو چې په رومیان ۱۲: ۹- ۲۱ کې لیدل کېږي. دغه برخه په دې مقصد غوره شوې ده ترڅو تاسو سره د خدای د خدمت په درك کولو کې مرسته وکړي. دا تاسو ته په ډاګه کوي چې د خدای خادم باید څه خصوصیات ولري. دغه فهرست زمونږ د غبنتلتیا او ګټې له پاره دی.

د دې فهرست په برابرولو کې مو د هغو لغاتو څخه کار اخیستی دی چې ستاسو سره د خدای د کلام د پیغام په درك کولو کې مرسته کوي. د خپل د ژوندانه په اړه دعا وکړئ او د روح القدس څخه مرسته وغواړئ. که چېرې کامل ژوندون نه لرئ، خواشیني کېږئ مه. هیڅ خادم کامل نه دی. مونږ کولای شو د خدمت کولو او د مسیح سره د مینې له لارې د هغه په شان شو.

د مسیح خادم باید:

- صادقانه او د ریا څخه پرته مینه ولري.
- د ناراستۍ څخه کرکه ولري.
- په روح کې سرګرمه وي.
- له نورو ایماندارانو سره مینه ولري.
- پاك او با ادبه وي.
- تنبل نه وي.
- روحاني جوش ولري.
- د خدای خدمت وکړي.
- خوشاله وي.

- په مشکلاتو کې صبرناکه وي.
- همیشه دعا وکړي.
- نور خلک په خپلې شتمنۍ کې شریک کړي.
- د هغه د کور دروازه د محتاجانو پر مخ خلاصه وي.
- د هغو خلکو له پاره د برکت دعا وکړي، چې ایمانداران ځوروي.
- له غمځپلو خلکو سره خواخوږي ولري.
- طرفداري ونکړي.
- مغرور نه وي.
- واړه خدمتونه ومني.
- خپل ځان له هغه څه څخه چې دی، لوړ ونه ګڼي.
- د بدۍ په مقابل کې دې بدي ونکړي.
- هڅه دې وکړي چې د نورو خلکو په نظر کې صحیح کارونه وکړي.
- هڅه دې وکړي چې د نورو سره په سولې او روغې کې ژوند وکړي.
- خپلو دښمنانو ته خواړه ورکړي.
- کله چې د هغه دښمن تږی وي هغه ته دې اوبه ورکړي.
- د نیکۍ له لارې پر بدۍ غلبه وکړي.

که چېرې هر ایماندار مسیح خپله نمونه وګرځوي او د هغه په خبر کړه وړه غوره کړي، نو هغه کلیسا به څومره د جلال څخه ډکه وي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

2. دا لاندیني آیتونه ولولئ.وروسته هر یو، له هغه خصوصیاتو سره ونښلوئ چې په نومورو آیاتونو کې بیان شوي دي.

الف: یوحنا ۱۱: ۳۲- ۳٦...

ب: اعمال ۱٦: ۲۲- ۲۵...

ج: فلپیان ٤: ۱٤- ۱٦...

د: مکاشفه ۱: ۹...

۱- په مشکلاتو کې صبوري
۲- په خپلې شتمنۍ کې د نورو شریکول
۳- له غمځپلو کسانو سره خواخوږي.

3. د هغو خصوصیاتو څخه چې په مخکیني فهرست کې وړاندې شول، کوم یو ستاسو په ژوندانه کې موجود دی؟ د هغې لاندې کرښه وکاږئ.

## ۲- خپلو نعمتونو ته وده او پراختیا ورکړئ

ممکن مونږ همیشه ونشو کړای چې په دقیقه توګه پوه شو چې خدای کوم نعمتونه مونږ ته ډالۍ کړي دي. مګر مونږ کولای شو چې د خدای د هدایت په نسبت حساس و اوسو. په مخکینیو لوستونو کې مونږ په دې ټکي پوه شو چې زمونږ نعمتونه په ځانګړي توګه په مونږ پورې اړه لري. هغه څوک کولای شي ښه کار ترسره کړي چې دا احساس کړي چې هغه د ښه کار د کولو وس لري. همدا شان په دې هم باید پوه شئ چې

خدای کولای شي مونږ ته هغه نعمتونه راکړي چې زمونږ د طبیعي استعدادونو سره هېڅ اړه نه لري. کوم ډول خدمتونه مونږ ته مناسب دي؟

**الف: خپل نعمتونه کشف کړئ**

روح القدس کولای شي حتی ډارن خلک هم په زړورو او باتورو افرادو بدل کړي. خپل ژوند او استعدادونه خدای ته وسپارئ. هغه وخت به کلیسا ته د خدمت کولو څخه خوند واخلئ. له دې کبله چې نوی خدمت امتحانوئ، کومه وېره ونه لرئ. مخصوصاً کله چې دا احساسوئ چې خدای تاسو د هغه د ترسره کولو له پاره لېږدوي. د نوي کارونو په ترسره کولو کې په خپل ځان ډېر فشار مه راولئ بلکه اجازه ورکړئ چې روح القدس تاسو د ځانګړيو خدماتو لوري ته هدایت کړي.

امکان لري تاسو د کلیسا د یو مشر یا کشیش له خولې څخه یو کلام واورئ چې تاسو سره د هغه خدمت په تشخیص کې مرسته وکړي چې باید سرته یې ورسوئ. اکثر هغه کسان چې د رهبرۍ په مقامونو کې خدمت کوي، کولای شي چې د نورو خلکو نعمتونه تشخیص کړي.

که کوم مشخص نعمت مو ترلاسه کړی وي او یا فقط د خدای د خدمت په ترڅ کې مو د روح القدس تحریک احساس کړی وي، په دې پوه شئ چې حتماً کوم خدمت لرئ. همدا شان په دې پوه شئ چې د نوموړي نعمت څخه د استفادې په منظور حتماً داسې څوک شته چې ستاسو سره مرسته وکړي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

4. د خپلو نعمتونو د تشخیصولو په خاطر ډېر ښه کار دا دی چې...

الف: د هغو کارونو ترسره کولو ته ډېره پاملرنه وکړئ چې له پخوا څخه پوهېدلئ چې څنګه ترسره کېږي.

ب: کوشش وکړئ چې هر هغه کار مو چې تر اوسه پورې نه دی ترسره کړئ، هغه وآزمایئ.

ج: هڅه وکړئ چې هغه کارونه ترسره کړئ چې هغه احساسوئ. روح القدس تاسو د هغو د سرته رسولو له پاره رهنمایي کوي. .

### ب: د خپل نعمت په ارزښت باندې پوه شئ

ستاسو خدمت په حقیقت کې د خدای نعمت دی چې تاسو ته درکړل شوی دی. همیشه هغه ته ارزښت ورکړئ. دا په دې مانا ده چې مغروره نشئ. مغرورتوب یعنی یو نفر له هغه څه څخه چې دی ځان ډېر لوړ وګڼي. د هغه نعمت ارزښت او درناوی چې تاسو ته درکړل شوی دی د دې حقیقت د تشخیص په مانا ده چې دغه نعمت خدای تاسو ته ډالۍ کړی دی او د هغه جلال باید خدای ته ورکړئ.

هغه خلک چې په کلیسا کې کار کوي د خپلو همکارانو د شاباسي لاندې قرار نیسي. هغه څوک چې د ستاینې او تعریف لاندې راشي د خوښۍ احساس کوي. په دې برخه کې مونږ ټول یو بل ته ورته یو. خو شیطان هڅه کوي ترڅو له دې لارې مونږ له ماتې

سره مخامخ کړي. مونږ نشو کولای چې د خپل خدمت له پاره جلال ترلاسه کړو. دا ځکه چې خدمت د خدای بخشش دی چې مونږ ته راکړل شوی دی. مونږ د خپل نعمت درناوی کوو او هغه ته ارزښت ورکوو. مګر د دې نعمت د درلودلو په خاطر، خپل ځانله جلال نه ورکوو. مونږ باید همیشه دا په یاد ولرو چې هر هغه څه چې لرو، د خدای ورکړه او بخشش دی (دوهم کورنتیان ٤: ٧).

## ج: د خپل نعمت څخه استفاده وکړئ

په رومیان ١٢: ٦ کې لولو چې د خپل نعمت د څرګندولو په خاطر له خپل ایمان څخه استفاده وکړو. که چېرې دغه نعمت نبوت کول وي، نو باید نبوت وکړو. لکه څنګه چې مو وویل، لومړی باید د خپل خدمت نعمت تشخیص کړو بیا وروسته له هغې ورڅخه استفاده وکړو.

مخکې مو ولیدل چې زمونږ د خدمت د تشخیص څخه وروسته، د هغه د ودې او پراختیا له پاره دوه طریقې موجودې دي. یعنې د ایمان تمرین او د هغه مطالعه. مګر مونږ څه شی باید مطالعه کړو؟ د خپلو نعمتونو په اړه فکر وکړئ. که چېرې تاسو د خدای د کلام خادم یاست، نو ستاسو لومړنۍ دنده دا ده چې پوه شئ چې د خدای کلام څه فرمایي. دغه درک او فهم د خدای د کلام د لوستنې او د هغې په اړوند د ژور تفکر له لارې ترلاسه کېږي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

5. د اول قرنتیان ٤: ٧ په مطابق،

الف: ټول نعمتونه یو دي.

ب: زمونږ نعمتونه د خدای له طرفه دي.

ج: مونږ کولای شو په خپله د خدای نعمتونه ترلاسه کړو.

د خدای روح زمونږ ملګری دی (د یوحنا انجیل ١٦: ١٣). له هغه څخه وغواړئ چې د کلام واقعي مانا تاسو ته زده کړي ترڅو تاسو وکړای شئ د حقیقت تعلیم پرمخ یوسئ. امکان لري چې د خدای د کلام په اړوند له کوم بل کتاب څخه استفاده وکړئ. خو په یاد ولرئ چې ټول هغه کتابونه چې د خدای د کلام په اړه لیکل شوي دي د حقیقت بیانوونکي نه دي. که چېرې کوم کتاب هغه حقیقت نه بیانوي کوم چې مقدس کتاب د هغه تعلیم ورکوي، نو له هغه څخه استفاده مه کوئ.

په کلیسا کې هره دنده یو روحاني خدمت دی. په یاد لرئ چې لومړني خادمین ټول هغه کسان وو چې له روح القدس څخه ډک وو. که څه هم د هغو دنده د هغو پیسو څخه څارنه وه چې کونډو ته ورکول کېدلې. خو دا غوره ده چې هر خادم دې د روح القدس څخه مالامال وي. له دې کبله د نعمتونو د ودې او تکامل له پاره پیشنهادي طریقې عبارت دي له: د ایمان تمرین، مطالعه، دعا او د هغو نعمتونو څخه کار اخیستنه چې تاسو یې لرئ. دا د پولس رسول د هغې وینا مانا ده چې وایي، که چېرې تاسو د تعلیم

ورکولو نعمت لرئ نو باید نورو ته تعلیم ورکړئ. که د خدمتګزارئ نعمت لرئ نو باید خدمت وکړئ. که د بخښلو نعمت لرئ نو باید د خپل مال څخه وبخښئ (رومیان ۱۲: ٦- ۸). له خپل نعمت څخه استفاده وکړئ. که چېرې دا کار ونکړئ د مسیح د بدن یعنی د کلیسا د رنځورتوب او کمزورتیا سبب ګرځئ. دا ځکه چې دغه نعمتونه ددې له پاره تاسو ته ډالۍ شوي دي چې د کلیسا د ساتنې سبب وګرځي. د هغو نعمتونو څخه کار اخیستنه چې ستاسو سره دي، ستاسو وخت او انرژۍ ته اړتیا لري، خو هغه د مسیح د ټول بدن د برکت او ستاسو د غښتلتیا سبب ګرځي.

پولس رسول د تیموتیوس د هڅونې دپاره د هغو نعمتونو د کارونې په خاطر چې له هغه سره ؤو، هغه ته داسې لیکي: "په دې خاطر زه تاته دا خبره دریادوم چې ته د خدای هغه نعمت وځلوه کوم چې زما د لاس د ایښودلو په وسیله تاته حاصل شوی دی" (دوهم تیموتیوس ۱: ٦). مونږ هم باید خپل نعمتونه ژوندي او فعال وساتو.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

6. کله چې پولس رسول وايي ((که استاذ وي نو په تعلیم کې دې مشغول وي)) (رومیان ۱۲: ۷)، د هغه مقصد دا دی چې...

الف: له هغو نعمتونو څخه ګټه واخلئ چې لرئ یې.

ب: تعلیم ډېر مهم نعمت دی.

ج: هر څوک باید تعلیم ورکړي.

له يو نعمت څخه کار اخيسته د هغه نعمت په اړه د پوهې له حاصلولو څخه اهميت لري. هر نعمت کولای شي چې د بدن د ژوندي ساتلو په مقصد خدمت وکړي. نو له همدې کبله د خپلو نعمتونو څخه استفاده وکړئ.

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

7. هره توضيح (کين اړخ ستون) د هغه مثال سره ونښلوئ (ښي اړخ ستون) چې د يوه نعمت د ودې او پراختيا ښکارندوی دی.

الف: بهرام دا وس لري چې د نورو سره مرسته وکړي. له دې کبله هغه د هغو کسانو په لټه کې دی چې رنځوران دي او د هغوی د مرستې له پاره ځانګړې لارې چارې لټوي.

ب: باتور د خدای د کلام د تعليم ورکولو سره سخته علاقه لري، که څه هم هغه تر اوسه پورې کله هم چاته تعليم نه دی ورکړی. له دې کبله هغه خپل ځان چمتو کوي او کوشش کوي په کليسا کې يو درس پرمخ يوسي.

ج: هميشه ګل د خدای شکر پرځای کوي او هغه ستايي، ځکه هغه دا وس لري چې نور کسان وهڅوي چې د خدای د ارادې په مطابق ژوندون ولري.

د: ګلمير د بخښنې او سخاوتمندۍ نعمت لري. له دې کبله د ډېرو هغو خلکو سره چې بيلابيلو مرستو ته اړتيا لري، مرسته کوي.

۱) پوهېدل
۲) ارزښت ورکول
۳) کار اخيستل

8. د يوه مسيحي خادم په توګه د خپل ځان په اړه فکر وکړئ. خپلې د يادداشت په کتابچه کې يو جدول وکاږئ، هغه نعمتونه چې لرئ او يا د لرلو هيله يې لرئ، مشخص کړئ. وروسته بيا په دې غور وکړئ چې څنګه کولای شئ له دغو نعمتونو څخه کار واخلئ (د نعمتونو د ياد آورۍ په مقصد دريم لوست يو وار بيا ولولئ).

## خپل ځوابونه مقايسه کړئ

۵) ب

۱) ستاسو ځواب بايد داسې وي: مسيح هڅه کوله چې دې ټکي ته اشاره وکړي چې هېڅ شاګرد يا خدمتګار له خپل معلم يا استاذ څخه لوی نه دی. هغوی د مسيح د شاګردانو په صفت له هغه څخه لوی نه وو. بيا نو هغو ته لاژم وو چې د مسيح له نمونې څخه پيروي وکړي (ښايي ستاسو ځواب له دې ځواب په شان ورته الفاظ ونلري. مګر مفهوم بايد سره ورته والی ولري).

۶) الف

۲) الف) ۳

ب) ۱

ج) ۲

د) ۱

۷) الف) ۳

ب) ۱

ج) ۲

د) ۳

۳) هیله من یو چې تاسو وکولای شئ چې د ځینو لاندې کربنه وباسئ. دعا وکړئ چې خدای ستاسو سره مرسته وکړي په پاتې نورو باندې هم کار وکړئ.

۸) ستاسو خپل ځواب: هیله ده چې هغه جدول چې تاسو په خپلې کتابچې کښې جوړ کړی دی، له تاسو سره مرسته وکړي ترڅو پوه شئ چې کوم نوي نعمتونه په تاسو کې شته چې کولای شئ هغه ته پراختیا ورکړئ.

۴) ج

**ستاسو یادداشت**

# يو بل ته د خادمينو اړتيا

آلبرت د هلکانو په يوه ټولګي کې خپل تدريس ته دوام ورکړ او د هغه تعليمي نعمت د کار اخيستنې له لارې چې هغه درلود، په ځان کې د دې نعمت د ودې او پراختيا سبب کېده. د يکشنبه په يوه ورځ د ټولګي څخه پس، کور ته د تګ په لار کې له خپل يو ملګري سره مخامخ شو چې (جان) نوميده. جان دې ته پام شو چې آلبرت خواشينی دی.

له هغه څخه يې وپوښتل: ((البرته څه شوي دي؟))

البرت ځواب ورکړ: ((نن ښه ورځ نه وه. فقط ٤ تنه صنف ته راغلي وو. ښايي چې زه په دې ټولګي کې د تدريس له پاره مناسب نه يم.))

جان وويل: ((آلبرت، خفه کېږه مه. د خدای کلام د يوې دانې په شان دی. که چېرې هغه وکَرې نو حتماً حاصل ورکوي. فقط وخت غواړي. هغه په دعا سره خړوبه کړه او خدای به هغه ته وده ورکړي ترڅو حاصل ورکړي.))

آلبرت موسکی شو او وې ويل: ((جان، ته واقعاً چې په ډېر ښه وخت کې راغلې. له تا څخه مننه کوم. ته زما د هڅونې او ليوالتيا سبب شوې. زه دې ته اړتيا لرم چې په خدای باندې ډېر زيات باور وکړم.))

جان هم په خندا شو. هغه له ډېره وخته دا احساسوي چې خدای د هڅونې او تشویقولو خدمت هغه ته ډالۍ کړی دی. جان د دې خبرې په اورېدو سره چې د هغه کار د آلبرت د زیاتې ډاډمندۍ د پیدا کوونې سبب ګرځېدلی دی او هغه هڅول شوی دی، ډېر خوشاله ؤ.

په دې لوست کې به وګورو چې ولې خدای مختلفو کسانو ته مختلف استعدادونه ورکړي دي.

## هغه څه چې په دې لوست کې به یې ولولئ

۱- د نورو سره زمونږ اړیکې

۲- د نورو سره زمونږ همکاري

۳- د نورو سره زمونږ د سلوک څرنګوالی

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- دا توضیح کړئ چې مسیحي خادمین له یو بل سره څه ډول اړیکې باید ولري.
- هغه نتایج بیان کړای شئ چې د یوبل سره د ایماندارانو د مرستې او همکارۍ څخه لاس ته راځي.
- هغه ارزښت تشخیص کړای شئ چې هر څوک یې د بدن د یوه غړي په توګه لري.

## ۱ - له نورو سره زمونږ اړیکې

په لومړي لوست کې مونږ د خدای د خادمینو د کورنۍ په اړه بحث وکړ. د کورنۍ د غړي د مانا او مفهوم په اړه یوه شیبه فکر وکړئ. په هغې کې ډېر خوندونه شته.

په یوې کورنۍ کې دنیا ته یو نوی راغلی ماشوم، دې ته اړتیا لري چې د خپلې مور او هغو کسانو په وړاندې چې د هغه سره مینه لري، د نږدې والي احساس وکړي. دغه موضوع په کلیسا کې هم لکه د کورنۍ په شان صدق کوي. که چېرې کوم نفر زمونږ کلیسا ته راځي، لومړنی شی چې باید هغه احساس کړي دا دی چې یوه شي چې نور کسان ورسره مینه او علاقمندي لري.

کورنۍ هغه ځای دی چې ماشومان په کې وده کوي. همدا شان په کلیسا کې هم باید همداسې وي. ځکه ایمانداران هغه وخت وده کوي او پوخوالي ته رسي چې له نورو ایماندارانو سره وي. د دې موضوع د عملي کېدو دپاره ضروري نه ده چې حتماً کوم ګروپ او یا ډله موجوده وي. د متي انجیل ۱۸: ۲۰ مونږ ته وایي چې که چېرې دوه یا درې تنه د مسیح په نامه سره راټول شي، په خپله مسیح هم هلته د هغو په منځ کې موجود وي. نو آیا یو مسیحي خادم د مسیح سره د اوسېدو پرته یا له نورو خادمینو څخه لېرې کولای شي چې د خپل خدمت دپاره ډېر زیات قوت ترلاسه کړي؟

په لومړنۍ کلیسا کې به اکثر ایمانداران سره راټولېدل او د دوستۍ او د یوبل په اړتیاوو کې د شریکېدلو څخه به خوشاله

کېدل. هغوی به له یوې داسې دنیا څخه راغلل چې د دښمنۍ څخه ډکه وه، او له یوبل سره به کښېناستل ترڅو د یوبل د تشویق او هڅونې سبب وګرځي او دې ته چمتو شي چې کله له یوبل څخه جلا کېږي، ګواهي ورکولو او کار کولو ته تیار وي.

خادمین علاوه پر دې چې د یوې کورنۍ غړي دي، د مسیح په بدن کې له یو بل سره شریک هم دي. همکاران په ګټو او ستونزو کې سره شریکان دي او له یو بل سره د دندې په ترسره کولو کې همکاري کوي. په اول کورنتیان ۳: ۹ کې لولو چې: "ځکه چې مونږ د خدای سره کارکوونکي (همکاران) یو".

خپل ځان د خپلې کلیسا د نورو خادمینو همکار او مرستندویه وبولئ. تاسو ټول په کار او په هدف کې سره شریکان یاست. د یو کار د پرمخ بیولو له پاره باید ټول سره همکاري وکړي. هر څوك هغه وخت ګټور او مثمر دی چې له نورو سره همکاري وکړي.

مګر له نورو سره د همکارۍ د لرلو په مقصد مونږ یوې سمې روحیې او برخورد ته اړتیا لرو. کله چې تاسو داسې یو نفر پیدا کوئ چې د لیوالتیا روحیه لري، په حقیقت کې تاسو د مسیح د بدن له پاره یو ګټور نفر موندلی دی. یو کشیش (د کلیسا مشر) ممکن ځینې وړتیاوې ولري او خدای هم له هغه څخه دعوت کړی وي، مګر که هغه ونشي کړای چې خپل اعمال او کردار کنترول کړي، هغه به د رهبرۍ په کار کې ماتې وخوري. خدای زمونږ څخه دا تمه نه لري چې ټول یو واحد کار سرته ورسوو. بلکه زمونږ څخه دا تمه لري چې صحیح روحیه ولرو، هغه روحیه چې مسیح درلوده.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

1. د همکارۍ په خاطر یو کس باید:

الف: له نورو سره کار وکړي.

ب: زیات استعدادونه ولري.

ج: خپل کار په یوائې توګه سرته ورسوي.

2. دا مشخصه کړئ چې هر هغه مثال چې د ښي خوا ستون کې ورکړل شوی دی، څه ډول یوه اړیکه بیانوي.

الف: احمد او زمرك په ګډه سره خپلو ګاونډیانو ته بشارت ورکوي...

ب: باتور داسې احساسوي چې هغه په خپلو مسیحي خویندو او ورونو باندې ګران دی...

ج: ایمل او زیارمل تنکیو ځوانانو ته د مقدس کتاب د یوه درسي صنف د پیل کیدو په خاطر په شریکه دعا کوي...

۱) د یوې کورنۍ غړي

۲) د یوه کار په سرته رسولو کې سره همکاران

## ۲ - له نورو سره زمونږ همکاري

که څېرې کوم نفر ستاسو لاسونه له یوه تار سره وتړي، تاسو کولای شئ چې په یو ناڅاپي حرکت سره هغه پرې وشلوئ. خو که د پړیو تعداد زیات وي نو په آسانۍ سره به ونه شلېږي. په همدې توګه ایمانداران هم کولای شي چې په شریکه توګه داسې کارونه

سرته ورسوي چې په یواځې ځان یې نشي سر ته رسولای. د مسیح بدن به هغه وخت قوي شي چې ټول په ګډه سره کار وکړي.

په زړې لوظنامې کې لولو چې نحمیا تصمیم ونیوه چې د اورشلیم دېوالونه بیا آباد کړي. نحمیا د کار د پیل څخه مخکې په دې پوهېده چې هغه به دښمنان ولري او په یواځې توګه نشي کولای چې دغه کار سرته ورسوي. بالاخره د ټولو یهودیانو په مرسته او همکارۍ سره نحمیا وکولای شو چې د اورشلیم دېوالونه بېرته جوړ کړي (نحمیا ۳ فصل).

ډېرو خلکو کار وکړ. کاهنان، زرګران، حاکمان، تجاران او حتی هغو خلکو هم په دې کار کې برخه واخیسته چې عطرونه یې تیارول. ډېر کارونه ترسره شول چې ناممکنه وه یو نفر دې هغه په یواځې ځان ترسره کړي.

په نوې لوظنامې کې لولو چې مسیح ۱۲ شاګردان غوره کړل ترڅو له هغه سره وي (مرقس ۳: ۱۳- ۱۵). همدا شان مسیح خپل شاګردان دوه دوه تنه د خدمت له پاره واستول (مرقس ٦: ٧). په همدې توګه دا هم لولو چې په لومړنۍ کلیسا کې، روح القدس ځانګړو خلکو ته هدایت ورکاوه چې له یو بل سره کار وکړي (اعمال ۱۳: ۲).

دا د کلیسا له پاره د خدای نقشه او پلان دی. هغه کار چې د یو نفر په وسیله نشي کېدای چې ترسره شي، او هغه وخت ترسره کېدای شي چې خلک له یو بل سره مرسته او همکاري وکړي. یو کشیش یا یو زېرې ورکوونکی نشي کولای چې په یواځې توګه

ټولې دنيا ته موعظه وکړي، بلکه هر مسيحي بايد په خپل وار سره د مسيح د پيغام په رسولو کې له نورو سره مرسته وکړي. هر څوک د خدای د پادشاهۍ په جوړونې کې خپل ځای او خپل مقام لري. هيڅوک بې ګټې نه دی. ځيني خلک موعظې کوي، ځينې نور تعليم ورکوي، ځيني روحاني سندرې وايي او ټول دعا کوي او کار پرمخ ځي. دا د همکارۍ په مانا ده.

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

3. د دې لاندينيو جملو څخه کوم يو د ايماندارانو له يو بل سره د همکارۍ څرګندوی ده.

الف: روح القدس ايماندارانو ته هدايت ورکوي.

ب: ځيني کارونه فقط هغه وخت ترسره کېږي چې ايمانداران له يوبل سره همکاري وکړي.

ج: هغه کسان چې د خدای له پاره کار کوي، له ډېرې زياتې خوشالۍ څخه برخمن دي.

## ۳- له نورو سره زمونږ د سلوک څرنګوالی

په جنوبي امريکا کې کې يو متل دی چې وايي: ((يو لاس بل لاس پرېمينځي)) او مونږ په خپل فرهنګ کې وايو چې: ((له يو لاس څخه ټك نه خېږي)). په اول کورنتيان ۱۲: ۱٤- ۲٦ کې هم همدا مفهوم بيان شوی دی.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

4. اول کورنتیان ۱۲: ۱٤- ۲٦ ولولئ او وروسته بیا دې لاندینیو سوالونو ته ځواب ورکړئ.

الف: د بدن د څو غړو نوم اخیستل شوی دی؟

ب: هر غړی کوم شی نشي کولای چې د خپل ځان په اړه ووایي؟

ج: هر غړی کوم شی نشي کولای چې د نورو غړو په اړه ووایي؟

له پورتنیو آیتونو څخه تاسو متوجه شوئ چې پولس رسول د بدن په اړه ځیني مطالب غواړي تاسو ته زده کړي. اجازه ورکړئ چې د کلیسا د خادمینو په اړه د هغه تعلیم وکارول شي.

امکان لري چې یو غړی ښوونکی وي. په هماغه کلیسا کې ممکن یو بل غړی وي چې نویو رابلل شویو نفرو ته ښه راغلاست وایي. دا نفر ښایي داسې ګومان وکړي چې د هغه دنده دومره مهمه نه ده. پولس رسول داسې نفر ته وایي: "داسې فکر مه کوه چې ته د بدن یا د کلیسا غړی نه یې. که چېرې تاسو هغو کسانو ته ښه راغلاست ونه وایئ چې د لومړي ځل له پاره کلیسا ته راځي نو څوک به هغو ته ښه راغلاست ووایي؟ ښوونکی باید په ټولګي کې وي، نو هغه نشي کولای ستاسو په ځای کې ودریږي. نو بیا بدن تاسو ته اړتیا لري".

ښايي ښوونکی داسې ګومان وکړي چې د هغه کار ډېر د اهميت وړ دی او په خپل زړه کې داسې ووايي چې مونږ په دروازه کې د کوم نفر د ودرولو له پاره اړتيا نه لرو. هغه په دې کار سره اشتباه کوي.

خدای دغه ټول کسان په کليسا کې مکلف ګرځولي دي. يو يې ټاکلی دی چې تعليم ورکړي او بل يې ددې له پاره ټاکلی دی چې خلکو ته ښه راغلاست ووايي. خدای همدا شان نور خادمين هم په کليسا کې مکلف کړي دي او کليسا هغوی ټولو ته اړتيا لري. کله چې د خپل خدمت او د نورو د خدمت په اړه فکر کوئ چې په کليسا کې يې ترسره کوي، پولس رسول غواړي چې ستاسو د کتنې سلوک داسې وي «هغوی ماته اړتيا لري او زه هم هغو ته».

په افسسيان ۵: ۲۹- ۳۰ کې داسې ويل شويدي: "ځکه چې چېرې هم چا د خپل بدن سره دښمني نه ده کړې، بلکه هغه پالي او پرورش يې کوي، داسې لکه چې مسيح د کليسا کاوه. ځکه چې مونږ د هغه د بدن اندامونه يو". دا پيغام واضيح او روښانه دی. هيڅوک خپل بدن او يا د هغه يوه برخه خپل دښمن نه ګڼي. په همدې توګه دا امکان نلري چې د کليسا غړي دې په خپلو کښې يو بل سره دښمن وګڼي. دا ځکه چې مونږ ټول د يوه بدن غړي يو. سترګه په دې پوهېږي چې هغه غوږ ته اړتيا لري او لاس هم په دې پوهېږي چې د پښې څخه پرته هغه نشي کولای چې مخ په وړاندې حرکت وکړي. په نتيجه کې په بدن کې يووالی منځ ته راځي.

مونږ هر يو بايد په هغه مکان کې خدمت وکړو چې خدای مونږ هلته ځای پرځای کوي. که چېرې په دې شرط خدمت وکړو چې خدای بايد مونږ په يو مهم مکان کې ځای پر ځای کړي، هغه وخت خدای نشي کولای چې زمونږ څخه استفاده وکړي. که چېرې پرېږدو چې خدای هرڅوک په هر هغه ځای کې چې لازم يې ګڼي ځای پرځای کړي او له هغه څخه کار واخلي، نو هغه وخت به کليسا واقعاً وده او تکامل وکړي.

مونږ بايد له يو بل سره د دعا، په ستونزو کې د شريکېدو، عملي مرستې، مينې، همفکرۍ، ناستې پاڅې له لارې مرسته او د يو بل ساتنه وکړو او د يو بل له پاره د خدای شکر ادا کړو.

د مسيحي خادمينو خدمت څومره عالي دی.

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

5. داسې فرض کړئ چې ستاسو يو شمېر دوستان په دې نه پوهېږي چې د دې خبرې مقصد چې خادمين د بدن يوه برخه ده، څه دی. هغه مطالب چې هغوی وايي په ښي خوا ستون کې ليکل شوي دي. د هر ستون مخامخ، د کين خوا د ستون څخه يو آيت، چې د هغې وينا د اصلاح له پاره ګټور دی، وليکئ.

الف: زه به په دې شرط په کليسا کې کار وکړم چې خپل مقام په خپله غوره کړم...

ب: شپانه هغه يوائينې خادمين دي چې کليسا ورته اړتيا لري....

ج: له دې کبله چې زماسره د نبوت نعمت شته نو دې

ته اړتيا نه لرم چې د کليسا له ښوونکو څخه تعليم حاصل کړم...

د: د مسيح په بدن کې ماته اړتيا نه ليدل کېږي ځکه نه رسول يم او نه هم نبي...

و: زه د مسيح د بدن کوم غړی کېدای نشم، ځکه چې زما سره د تعليم نعمت نشته. ...

۱) اول کورنتيان ۱۲: ۱۵

۲) اول کورنتيان ۱۲: ۱۸

۳) اول کورنتيان ۱۲: ۱۹

٤) اول کورنتيان ۱۲: ۲۱

## ځيل ځوابونه مقايسه کړئ

۳) ب

۱) الف

۴) الف) له څلورو غړو څخه يادونه شوې ده، چې عبارت دي له پښې، لاس، غوږ او سترګې (که چېرې تاسو بوی کول چې په ۱۷ آيت کې راغلی دی، هم وشمېرئ نو پنځه غړي کېږي).

ب) زه د بدن غړی نه يم

ج) زه هغو ته اړتيا نه لرم.

۲) الف) ۲

ب) ۱

ج) ۱

د) ۲

۵) الف) ۲

ب) ۳

ج) ٤

د) ۱

ه) ۱

## ستاسو يادداشت

اوم لوست

# په محبت سره خدمت

که څه هم فقط یو څو هلکان په هغه صنف کې چې آلبرت د مقدس کتاب درس ورکوي، حاضرېږي خو هغه په صنف کې له ډېرو ستونزو سره مخامخ دی. هغه په ډېر دقت سره درس تیاروي او هڅه کوي خپل درس په ښه توګه وړاندې کړي. آلبرت زیاتره د هغو کارونو په اړه فکر کوي چې د شاګردانو د خوښې وړ دي او په ښې زده کړې کې له هغو سره مرسته کوي. مګر سره د دې هم کله کله هغوی اصلاً دې ته پاملرنه هم نه کوله او اکثراً هغوی به د آلبرت د تمې پرخلاف حرکت کاوه چې د البرت د خواشینۍ سبب ګرځیده. خو هغه په دې پوهېده چې خدای به هغه ته هدایت ورکړي.

یوه ورځ آلبرت په داسې حال کې چې د خدای د کلام په مطالعې بوخت ؤ، د خپل ټولګي په اړه یې فکر کاوه. د یوحنا د انجیل د ۱۳ فصل د مطالعې په ترڅ کې هغه دې ته متوجه کېږي چې مسیح د خپلو شاګردانو پښې پرېمینځلې. وروسته بیا په ۳٤ آیت کې یې وکتل چې مسیح خپلو شاګردانو ته یو نوی حکم ورکوي. هغوی باید له یو بل سره مینه او محبت وکړي. لکه څنګه چې مسیح له هغو سره محبت وکړ. که څه هم آلبرت پخوا هم دغه برخه لوستلې وه، ولې اوس هغه ته دې

برخې يو بل مفهوم پيدا کړي ؤ. هغه دا درک کړه چې علاوه د خپل نعمت څخه هغه بايد نور خدمتونه هم ترسره کړي. هغه دا زده کړل چې د هغو کسانو سره چې هغه مرسته کوي او له هغو سره کار کوي، بايد ورسره مينه هم وکړي. چې په دې کې هغه هلکان هم شامل وو چې د هغه په صنف کې يې سبق وايه.

په دې لوست کې به تاسو دا زده کړئ چې د مسيح د خادمينو په صفت، له څه ډول محبت څخه بايد برخمن و اوسئ. تاسو به پوه شئ چې د دې محبت سرچينه له کومه ځايه څخه ده او ستاسو په ژوند کې کوم نتايج کولای شي منځ ته راوړي.

## هغه څه چې په دې لوست کې به يې ولولئ

۱- خدای د محبت سرچينه ده

۲- اصلي اړتيا مينه ده

۳- محبت حاصل ورکوي

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- دا توضيح کړئ چې مسيحي خادمين څه ډول محبت بايد ولري.
- دا بيان کړئ چې ولې يو مسيحي خادم په خپل ژوند کې د خدای محبت ته اړتيا لري.
- د نورو په وړاندې د خدای محبت بيان کړئ.

## ۱ - خدای د محبت سرچینه ده

کله چې د خدای کلام مطالعه کوو، په آسانۍ سره کولای شو د خدای مینه چې زمونږ سره یې لري، درک کړو. "مینه په دې کې نه ده چې مونږ د خدای سره مینه وکړله بلکه په دې کې ده چې هغه زمونږ سره مینه وکړله او زمونږ د کفارې له پاره یې خپل زوی راولېږلو" (اول یوحنا ٤: ۱۰).

د خدای د مینې څخه کومه لوړه مینه وجود نلري. د پلار خدای مینه دومره لوړه اوستره ده چې خپل زوی یې زمونږ له پاره ورکړ. د زوی مینه زمونږ په مقابل کې دومره لویه وه چې خپل ځان یې زمونږ دپاره قربان کړ. مسیح نه یواځې د خپلو دوستانو بلکه د خپلو دښمنانو له پاره هم خپل ځان قربان کړ. آیا له دې څخه لوړه او ستره مینه شته ده؟ "خو خدای خپله مینه مونږ ته داسې ښکاره کړه، کله چې مونږ لا ګناه ګار وو نو مسیح زمونږ د پاره مړ شو" (رومیان ٥: ۸).

په لوقا ۱٥: ۱۱- ۲٤ کې مونږ د یوه ځوان هلک داستان لولو چې خپله ټوله شتمني یې چې پلار یې ورته بخښلې وه، برباد کړه. خو په کور کې د هغه پلار لا هم د هغه د راستنېدو په تمه ناست ؤ. یوه ورځ هلک بېرته کور ته راستون شو. پلار یې هلته د هغه په انتظار کې ولاړ ؤ. هغه خپل زوی ولید او هرکلي ته یې ورمنډه کړه. هغه یې په خپل غېږ کې ونیوه او ښکل یې کړ او ورته یې په ډېرې خوشالۍ سره ښه راغلاست ووایه.

مسیح ولې د دې داستان یادونه وکړه؟ هغه غوښتل چې مونږ د خپل ځان په وړاندې د خدای احساس درک کړو. خدای یواځې له هغو کسانو سره مینه نه کوي چې نیک او ښه خلک دي. د خدای مینه له انساني مینې څخه ډېره ستره ده. دا ځکه چې خدای مینه ده او له هر انسان سره مینه کوي.

اجازه راکړئ چې د یوه کشیش (د کلیسا مشر) په اړه یو واقعي داستان بیان کړم چې زه هغه د (جان) په نامه پېژنم. یو شمیر ځوانانو په کلیسایي چارو کې له هغه سره همکاري پیل کړه. خو د هغو د کالیو د اغوستلو طریقه د کشیش نه خوښېده. جان هغو ته اجازه ورکړه چې راشي، ولې په زړه کې یې له هغو سره مینه نه درلوده. هغوی د هغه سره فرق درلود.

یوه ورځ چې هغه د دعا په حالت کې ؤ، روح القدس ورته داسې وویل: "جان! ته له دغو ځوانانو سره مینه نه لرې، فقط له هغو کسانو سره مینه لرې چې ستا په شان فکر کوي. تا ته فقط هغه کسان ګران دي چې ستا په شان دي". دا خبرې د جان د تعجب سبب وګرځېدې. هغه د زیات وخت له پاره خپل لاسونه پرخپلو زنګنو کېښودل او په دعا بوخت شو. هغه نه غوښتل دا ومني چې ګنې هغه له هغو ځوانانو سره مینه نه لري. که څه هم پوهېده چې دا حقیقت لري. هغه واقعاً له دغو ځوانانو سره مینه نه درلوده. جان خدای ته اجازه ورکړه چې په هغه کې بدلون راولي او له هغو سره یې خپل رفتار دوستانه کړ. هغوی ته یې د خدای د کلام تعلیم ورکړ او بالاخره سره دوستان شول. هغو ټولو ځوانانو دا احساس کړه چې جان له هغوی سره مینه لري. هغوی

د خدای د مینې څخه برخمن شول ځکه چې جان د کلیسا د کشیش په توګه خدای ته اجازه ورکړه چې هغه بدل کړي او د هغه له لارې له ځوانانو سره مینه وکړي. د خدای مینه زمونږ په زړونو کې ده. خدای کولای شي چې ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو له هغو کسانو سره محبت وکړئ چې په ګناه کې ژوند کوي. خدای کولای شي تاسو ته دا وس درکړي چې له هغه چا سره مینه وکړئ چې په زندان کې دی. هغه کولای شي تاسو دې ته قادر کړي چې له ټولو انسانانو سره مینه وکړئ.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

1. خپل د یادداشت په کتابچې کې په یوې او یا دوو جملو کې ولیکئ چې دا لاندیني حالات د محبت کومه جنبه ښکاره کوي.

الف: مسیح په هغه حالت کښې چې په رومیان ٥: ٨ کې بیان شوی دی.

ب: پلار په لوقا ١٥: ١١- ٢٤ کې.

ج: هغه کشیش چې د جان په نامه معرفي شو.

2. ښایي تاسو هم د دې کشیش په څېر ځیني کسان وپیژنئ. خپل د یادداشت په کتابچې کې دغو لاندنیو پوښتنو ته ځواب ورکړئ.

الف: دا کوم خلک دي چې زما دښمنان دي او زه باید له هغو سره مینه وکړم؟

ب: دا کوم خلک دي چې زما څخه فرق لري او زه باید

له هغو سره مینه وکړم؟

ج: دا کوم خلک دي چې په ګناه کې لاهو دي او زه باید له هغو سره مینه وکړم؟

## ۲- اصلي اړتیا مینه ده

خدای د مسیحیانو په غاړه یو لوی مسئولیت اچولی دی. د متي په پنځم باب کې داسې لولو: "تاسو د دنیا له پاره مالګه یئ. که مالګه بې خونده شي نو څنګه به مالګینه شي؟ دا بیا هیڅ په کار نه راځي او د غورزولو او د پښو د لاندې کولو وړ شي. تاسو د ټول عالم له پاره رڼا یئ. کوم ښار چې په غره آباد وي هغه پټېدی نشي. او تاسو هم دغه شان د خلکو په وړاندې رڼا خوره کړئ د دې د پاره چې هرکله چې هغوی ستاسو ښه کارونه ویني، هغوی به ستاسو د پلار چې په آسمان کې دی لویي بیان کړي" (متي ۵: ۱۳ او ۱٤ او ۱٦).

که چېرې د خادمینو ژوند له هغو کسانو سره توپیر ونه لري کوم چې خلاصون یې ترلاسه کړی دی، نړۍ به مسیح څرنګه وپېژني؟

مسیحي خادمین په حقیقت کې یوه نمونه ده. یوه نمونه د یوه واقعي شي یوه کوچنۍ برخه ده. که تاسو وغواړئ چې د یوې ډوډۍ څخه یوه نمونه ولرئ نو د هغې له څنډې څخه یوه ټوټه بېلوئ. هغه ټوټه بالکل د ټولې ډوډۍ په شان ده. کله چې نړۍ مونږ ته ګوري، نو باید هغه حقیقي برخه وګوري. مونږ ټول باید د هغه خدای یوه رښتنې نمونه واوسو چې ښایي خلکو

هېڅکله هغه په واقعي توګه نه وي پېژندلی. حقیقتاً مونږ ځومره اړتیا لرو چې د خدای په شان واوسو.

کله چې خلک ستاسو نور (روښنایي) ګوري نو د مسیح، یعنې دا د نړۍ د نور، لوري ته راښکل کېږي. کله چې ستاسو مینه او محبت ګوري نو د خدای طرف ته چې رېښتنی محبت دی راجذبېږي. کله چې ستاسو نیک اعمال ګوري نو په دې پوهېږي چې خدای په تاسو کې استوګنه لري او د خدای ستاینه به وکړي (متي ۵: ۱۶).

د خدای په شان کېدل همیشه آسانه نه ده. د مسیح له پاره د زمکې په مخ ژوند کول آسانه کار نه ؤ. ستاسو مینه به له آزموینې سره مخامخ شي. ممکن همیشه ستاسو زړه ونه غواړي چې له ځانه تېربدنه ښکاره کړئ. خو که چېرې داسې رفتار وکړئ، نو د خدای محبت به ښکاره کړئ.

زمونږ خدمتونه هغه وخت کولای شي خلک بدل کړي چې مونږ په خپله د روح القدس له خوا بدل شو. هغه وخت به واقعي محبت عمل وکړي. مونږ هغه وخت کولای شو چې د محتاجه خلو د مرستې له پاره ودانګو چې حاضر شو خدمت وکړو او په مینه د هغو اړتیاوې پوره کړو.

اجازه راکړئ چې موضوع داسې خلاصه کړو: "ای بچیو! راځئ چې مینه وکړو. نه په خبرو او په ژبې کې بلکه په عمل او په راستۍ کې" (اول یوحنا ۳: ۱۸).

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

3. په کومو مهمو دلایلو سره مسیحي خادمین باید مینه او محبت ولري؟

الف: دنیا د خدای د مینې د نمونې لیدو ته محتاجه ده.

ب: د ټولو خلکو سره مینه کول سخت کار دی.

ج: د مسیحي خادم مینه به و آزمایل شي.

د: حقیقي مینه خلک د خدای لورې ته کش کاږي.

## ۳- محبت حاصل ورکوي

که چېرې مسیح په مونږ کې اوسي د هغه مینه به هم په مونږ کې اوسي. پخوا مونږ وویل کله چې خدای په مونږ کې اوسي، هغه خپل ځان زمونږ د اعمالو له لارې خلکو ته ښکاره کوي. هغه به هغه وخت په مونږ کې اوسي چې اجازه ورکړو خپل ځان مونږ ته ښکاره کړي.

د خدای مینه تر هغه ځایه پورې رسیږي چېرته ستاسو مینه یوازې نشي تللی.. کله چې مونږ لا ګناهکاران وو، خدای زمونږ سره مینه وکړه. د خدای مینه په مونږ کې د دې سبب کرځي چې مونږ د ګناه ګارانو سره مینه وکړو. خدای حتی له خپلو دښمنانو سره مینه درلوده. د خدای مینه په مونږ کې د دې سبب ګرځي چې مونږ له خپلو دښمنانو سره هم مینه وکړو. خدای د هغو خلکو سره هم مینه کوله چې هغه یې نه قبلاوه (لوقا ۲۳: ۳٤). له دې کبله د خدای مینه په مونږ کې د دې سبب ګرځي چې د هغو خلکو سره مینه وکړو چې زمونږ د پرېشانۍ سبب ګرځي (متي ۵: ۱۱- ۱۲).

په نتیجه کې له هرچا سره مینه کول ممکن کیږي. کله چې مونږ اجازه ورکړو چې د خدای مینه زمونږ له زړونو څخه د دې خلکو طرف ته جاري شي، بیا کولای شو چې له هغو سره مینه وکړو. دغه الهي محبت په مونږ پورې اړه لري او کولای شي چې ډېر کارونه ترسره کړي چې زمونږ مینه نشي کولای هغه سرته ورسوي.

## هغه څه چې باید ترسره يې کړئ

4. د لاندنیو کومو افرادو سره د مینې کولو په خاطر، په ځانګړې توګه د خدای مینې ته اړتیا لرو؟
الف: هغه خلک چې زمونږ سره مینه لري.
ب: ګناهګاران
ج: دښمنان
د: هغه خلک چې زمونږ څخه کرکه لري.
و: هغه خلک چې زمونږ سره مهربانه دي.
ه: هغه خلک چې مونږ ردوي.
الف: هغه خلک چې مونږ درکوي.
ب: هغه خلک چې زمونږ د پرېشانۍ سبب ګرځي.

حقیقتاً روح القدس یو خارق العاده بخشش دی. روح القدس فقط د یو ځل له پاره په تاسو کې ځای نه نیسي، بلکه هغه په تاسو کې د تل له پاره استوګن کېږي. مسیح وفرمایل: "او زه به پلار ته خواست وکړم چې تاسو ته بل مددګار درکړي، څوک

چې به تاسو سره مدام وي" (يوحنا ١٤: ١٦). تر هغې پورې چې روح القدس په تاسو کې استوګن دی، په تاسو کې کار کوي. د روح القدس يو کار چې په تاسو کې يې ترسره کوي هغه ستاسو په ژوند کې د حاصل يا ثمر ورکول دي. دغه ثمر له هغو نيکو اخلاقي فضايلو سره تړاو نه لري چې په طبيعي توګه په تاسو کې وجود لري. که چېرې تاسو غلاطيان ٥: ١٩- ٢١ ولولئ نو و به ګورئ چې د انسان طبيعت څرنګه دی. هغه ثمرې چې روح يې د ايماندارانو په ژوند کې منځ ته راوړي، څومره مختلفې دي.

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

5. غلاطيان ٥: ٢٢- ٢٣ او اول کورنتيان ١٣: ٤- ٧ ولولئ او دغو لاندنيو سوالونو ته خپل د يادداشت په کتابچې کې جواب ورکړئ.

الف: په پورتنيو کومو آياتونو کې د روح له ٩ ميوو څخه نوم اخيستل شوی دی؟

ب: له پورتنيو آياتونو څخه کوم يو کم تر کمه هغه ١٥ طريقې بيانوي چې محبت ورباندې عمل کوي؟

آيا دې ته مو پام شو چې په اول کورنتيان ١٣: ٤- ٧ کې محبت څرنګه د روح هغه ميوې چې په غلاطيان ٥: ٢٢ او ٢٣ کې بيان شويدي، څرګندوي؟ محبت څومره مهمه دی. او څومره مهمه ده چې يو مسيحي خادم د خدای مينه ښکاره کړي. هماغسې چې په اول کورنتيان ١٣: ٢ کې لولو: "که زه

نبوت کولای شم او ټول پټ حقیقت ماته معلوم وي او د ټولو علومو ماهر شم او که زما ایمان دومره قوي وي چې وکړای شم غرونه وخوزوم، خو که زه مینه نه لرم نو هیڅ نه یم".

کله چې خدای دا دنیا جوړه کړه، د هغې ټول موجودات یې داسې پیدا کړل چې خپل همجنس تولید کړای شي (پیدایښت). او د روح القدس له لارې په انسانانو کې پوه کړای شو او په حقیقت کې مونږ یې د خپل ځان په شان خلق کړو او مونږ ته یې دا امکان راکړ چې مینه ولرو.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

6. د اول کورنتیان ۱۳: ۲ په مطابق د خدمت نعمتونه:

الف: د محبت پرته بې ګټې دي.

ب: له محبت سره کوم تړاو نلري.

ج: مهم نه دي.

7. صحیح جملې مشخصې کړئ:

الف: روحاني نعمتونه په غلاطیان ۵: ۲۲ او ۲۳ کې بیان شویدي.

ب: که چېرې سخت کوشش وکړو، هغه نیک سلوک چې په طبیعي توګه په مونږ کې وجود لري، مونږ ته توان راکوي چې له نورو خلکو سره هماغه شان مینه وکړو چې خدای یې له هغوی سره کوي.

ج: دا زمونږ په باطن کې د روح القدس د کار نتیجه ده چې مونږ کولای شو د خدای په شان مینه وکړو.

## ځپل ځوابونه مقايسه کړئ

۴) ب، ج، د، و، ح

۱) الف) د ګناهګارانو په نسبت مينه

ب) د هغه چا سره مينه چې هر هغه څه چې هغه له ورکړل شويدي هغه يې له لاسه ورکړي دي.

ج) د هغو خلکو سره مينه چې له هغه سره فرق لري.

۵) الف) غلاطيان ۵: ۲۲- ۲۳

ب) اول کورنتيان ۱۳: ٤- ۷

۲) ستاسو ځپل ځواب. هيله من يو چې له خدای څخه وغواړئ چې له تاسو سره مرسته وکړي ترڅو له هغو خلکو سره چې د هغو نومونه مو ليکلي دي مينه وکړئ.

۶) الف.

۳) الف، د

۷) الف) غلط

ب) غلط

ج) صحيح

## اتم لوست

# د رهبرانو سره همکاري

اوس څه د پاسه یو کال تېرېږي چې آلبرت د خپلې کلیسا غړی دی. هغه په دې موده کې ډېر شیان زده کړل. هغه د هغو رهبرانو په اړه فکر کول پیل کړل چې په کلیسا کې یې له هغه سره مرسته وکړه. آلبرت د هغه مشر په اړه فکر کاوه چې هغه یې وهڅاوه ترڅو خپلو نعمتونو ته پراختیا ورکړي او له هغو څخه کار واخلي. همدا شان هغه د هغو خلکو په اړه فکر کاوه چې د خدای کلام یې ورته زده کړی وو او یا هغه خلک چې د روحاني سندرو په زده کړې کې، څه په انفرادي توګه او څه هم د نورو ایماندارانو سره یوځای، هغه ته هدایت ورکړی ؤ. واقعاً چې هغوی د خدای د خدمتګارانو ډېرې ښې نمونې وې.

هماغسې چې هغه د دې موضوعاتو په اړه فکر کاوه، دا یې احساسوله چې هغه دې ته لېواله دی چې د هغو رهبرانو په اړه ډېر معلومات ترلاسه کړي چې په کلیسا کې خدمت کوي. هغه غوښتل چې په دې پوه شي چې د هغو د ټاکنې څخه د خدای هدف او مقصد څه دی. هغه همدا شان دې ته هم لېواله و چې پوه شي چې د هغو رهبرانو په وړاندې څه مسئولیت لري چې د هغه خدمت کوي.

دا لوست به ستاسو سره مرسته وکړي چې دا درک کړئ چې کلیسا ولې مشرانو ته اړتیا لري. همدا شان له تاسو سره به مرسته وکړي چې پوه شئ چې په کلیسا کې څه ډول مشران موجود دي او تاسو څرنګه کولای شئ له هغو سره کار وکړئ ترڅو د کلیسا له پاره د خدای عالي هدف پلی شي.

## هغه څه چې په دې لوست کې به یې ولولئ

۱- د رهبر کار

۲- زمونږ مسئولیت

۳- ترلاسه شوي نتایج

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو . . .

- په کلیسا کې د مشرانو او رهبرانو اهمیت درک کړئ.
- دا بیان کړئ چې د خپلو رهبرانو په وړاندې څه مسئولیتونه لرئ.
- د هغو رهبرانو قدرداني وکړئ چې خدای تاسو ته درکړي دي.

## ۱- د رهبر کار

هر چېرته چې باید یو کار ترسره شي هلته یو مشر یا رهبر ته اړتیا لیدل کېږي. خدای یو شمېر خلک د رهبرانو په توګه د کلیسا په اختیار کې ورکړي دي (افسسیان ٤: ١١). یو رهبر په کلیسا کې یو لوی مسئولیت په غاړه لري او د هغه خدمت په

اړه چې سرته يې رسوي د خدای په وړاندې ځواب ورکوونکی دی (عبرانيان ۱۳: ۱۷).

د يوه رهبر دنده دا ده چې د کارونو د پرمختګ څارنه وکړي. رهبر د هغو خلکو سره همکاري کوي چې د هغه تر نظر لاندې کار کوي. ترڅو د هغه د نظارت لاندې کارونه پرته له کومې ستونزې پرمخ لاړ شي.

**الف: کشيش**

کشيش، د خدای تر نظر لاندې د کليسا رهبر دی. يو کشيش په کليسا کې کومه دنده سرته رسوي؟ هغه لارښوونې کوي، خواړه ورکوي، تعليم ورکوي او د څارنې کار پرمخ بيايي.

هغه د رهبرۍ چارې پر مخ بيايي. کشيش د نمونه توب له لارې د رهبرۍ چارې پرمخ بيايي. "هېڅوک دې ستا ځوانۍ ته سپک ونه ګوري، بلکه ته د ايمان راوړونکو له پاره په خبرو کولو، چال چلن، مينه، ايمان او پاکۍ کې نمونه جوړ شه" (اول تيموتيوس ٤: ۱۲). د زده کړې يوه ډېره ښه طريقه دا ده چې هغه نفر ته نظر وکړو چې د کارونو په ترسره کولو کې مهارت لري. دا ډېره مهمه ده چې يو کشيش دې صحيح ژوند ولري او خپل کار په سمه توګه ترسره کړي. دا ډېر لېدل شوي دي چې که چېرې د کليسا کشيش يوه ښه نمونه نه وي، ټوله کليسا غلطې لارې ته کښل کېږي او بېلارې کېږي. کشيش د هغه خدمت له لارې چې په کليسا کې يې ترسره کوي، د اړتياوو د پوره کوونې په خاطر خپله کليسا رهبري کوي. هغه بايد ځوانانو ته هدايت ورکړي، له

کمزورو سره مرسته وکړي، ځانګړي تعليمات بيان کړي او د خلاصون مفهوم خلکو ته تشريح کړي. امکان لري چې يو کشيش دغه ټولې دندې په خپله ترسره نکړي، بلکه هغه رهبري کړي.

**خپل غړي تغذيه کړي**: کشيش ته پکار دي چې خپل يو څه وخت په دعا او د خدای د کلام په مطالعې کې تېر کړي ترڅو هغه روحاني خواړه تيار کړي چې کليسا ورته اړتيا لري. د خدای د کلام له لارې هر ايماندار ته کولای شي چې خواړه ورکړي، که هغه پوخ ايماندار وي او يا نوی ايماندار. هغه بايد د خدای د کلام ټول حقايق موعظه کړي. هغه نشي کولای چې فقط هغه شيان موعظه کړي چې خلک د هغو په اورېدو سره خوشالېږي. دا ځکه چې ځيني خلک نه غواړي چې حقيقت واوري.

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

1. د لاندنيو آياتونو څخه کوم يو د دې حقيقت بيانوونکی دی چې يو رهبر بايد د هغه خدمت له پاره ځواب ورکوونکی وي چې ترسره کوي يې؟
   - الف: افسسيان ۳: ۱۱
   - ب: اول تيموتيوس ٤: ۱۲
   - ج: عبرانيان ۱۳: ۱۷

**تعليم ورکوي**: په دوهم تيموتيوس کې لولو چې هغه څوک چې غواړي د خدای خادم اوسي بايد له ټولو سره نرم سلوک ولري او له تعليم سره خاصه دلچسپي وښيي. کله چې يو کشيش تعليم ورکوي، په حقيقت کې هغه خپلو آورېدونکو ته حقايق تشريح کوي او هغه څه روښانه کوي چې خدای په خپل کلام کې ويلي دي. هغه خلکو چې تعليم يې ترلاسه کړی دی، کولای شي چې نورو خلکو ته هم تعليم ورکړي او يا د کليسا له کشيش سره مرسته وکړي (دوهم تيموتيوس ۲: ۲). بايد دې ټکي ته کلکه پاملرنه وکړو چې تعليم ورکول يو لوی مسئوليت دی (يعقوب ۳: ۱).

**څارنه کوي**: د کليسا د کشيش کار معمولاً له هغه کشيش سره مقايسه کېدلای شي چې رمې پيايي. د رمو يو ښه کشيش تل داسې کوي چې د خپلو پسونو څخه په ښه توګه څارنه او ساتنه وکړي. خو هغه څوک چې مزدور وي هغه د خطر په موقه تېښته کوي. مګر يو ښه کشيش د خطر په وخت کې د خپلې رمې ترڅنګ پاتې کېږي. په عين شکل په کليسا کې هم دا حقيقت صدق کوي. هغه کشيش چې فقط د پيسو يا معاش له پاره کار کوي، هغه به د دې پروا ونکړي چې په کليسا باندې څه پېښېږي. مګر د کليسا هغه کشيش (لارښود) چې د يو ښه

کشیش په شان دی، هغه به تل د دې ځارنه کوي چې هېڅ شی د ایماندار د کمزورتیا سبب و نه ګرځي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

2. دا مشخص کړئ چې د ښې خوا ستون هره جمله د کشیش د کومې دندې بیانوونکې ده.

الف: ایماندار دې ته هڅوي چې خپل خدمت ته دوام ورکړي...

ب: د خدای د کلام ټول حقایق بیانوي...

ج: د دې ځارنه کوي چې هیڅ شی د کلیسا د کمزورتیا سبب نشي...

د: له نورو سره د خدای د کلام په درک کې مرسته کوي...

و: د نورو په نظر کې په ښه توګه ژوند کوي...

ه: د خدای د کلام د حقایقو مانا تشریح کوي...

١- رهبري
٢- تغذیه
٣- تعلیم
٤- ځارنه

### ب: مشران او د کشیش مرستیالان

په مقدس کتاب کې د مشرانو او د کشیش د مرستیالانو څخه هم د کلیسا د رهبرانو په توګه خبرې شویدي. په لومړنۍ کلیسا کې مشرانو به د خدای د کلام خدمت کاوه او د کشیش مرستیالانو به د کلیسا اړتیاوو ته رسیدګي کوله. نن ورځ

مشران له کشیشانو سره مرسته کوي. د هغو څخه ډېر یې د هڅوونکي نقش لوبوي. په یعقوب ۵: ۱٤ کې لولو چې ناروغ باید له مشرانو څخه غوښتنه وکړي ترڅو د هغه له پاره دعا وکړي. مشران باید روحاني او پاخه خلک وي.

د کشیش د مرستیالانو کار د مشرانو له کار څخه توپیر لري. خو هغوی هم له کشیش سره مرسته کوي. هغوی امکان لري چې د کلیسا د جوړښت د کار مسئولیت په غاړه ولري او یا له هغو ایماندارانو سره مرسته وکړي چې مختلفې اړتیاوې لري. په هرې کلیسا کې کار سره تفاوت لري. له دې کبله بیلابیلو کسانو ته چې مختلفې توانمندي ګانې ولري اړتیا لیدل کېږي. د کشیش یو مرستیال کېدای شي ډېرې طبیعي توانمندي ګانې ولري. هغه د خدمت کولو لیواله دی او خدای د هغه ژوند مسح کوي او د هغه خدمت د کلیسا له پاره ګټور او با ارزښته ګرځوي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

3. صحیح جملې په ګوته کړئ.

الف: د کشیش یو مرستیال له دې کبله چې د کلیسا له پاره ګټور وي هغه د طبیعي استعداد څخه پورته یو شي ته اړتیا لري.

ب: د کلیسا ټول مشران باید وکولای شي چې یو شان کارونه ترسره کړي.

ج: مشران او د کشیش مرستیالان باید روحاني خلک وي.

## ۲- زمونږ مسئوليت

مونږ د مشرانو په وړاندې څلور مسئوليتونه لرو.

الف) له هغه کلام څخه اطاعت چې هغوی يې موعظه کوي.

ب) د هغوی درناوی.

ج) د هغوی څخه ساتنه

د) له هغوی سره مرسته او همکاري.

### الف: له هغه کلام څخه اطاعت چې هغوی يې موعظه کوي

د کليسا کشيش د خدای د کلام د موعظې سپېڅلې دنده په غاړه لري. مونږ بايد د کليسا د غړو په صفت، دغه کلام د زړه له کومې ومنو او د هغه اطاعت وکړو (روميان ۶: ۱۷ او اول پطرس ۱: ۲۲). د خدای کلام په هغه وخت کښې مونږ ته ګټور وي چې هغه واورو، په هغه ايمان راوړو او د هغه اطاعت وکړو (يعقوب ۱: ۲۲- ۲۵).

### ب: د هغوی درناوی

د خدای کلام مونږ ته دا تعليم راکوي چې د خپلو مشرانو درناوی وکړو. اول تسالونيکيان ۵: ۱۲- ۱۳ مونږ ته داسې وايي: "ای ورونو، مونږ تاسو ته خواست کوو، څوک چې په تاسو کې خواري کوي او په مالک کې تاسو ته لارښوونکی وي او تاسو ته نصيحت کوي د هغوی قدر (درناوی) کوئ. او د هغوی د کار په

سبب په مینه د هغوی عزت کوئ، او په خپلو کې سوله لرئ".

د کشیش او یا د مشرانو د درناوی یوه طریقه دا ده چې په هغوی باندې نیوکې ونکړو او د هغوی عیبونه ونه لټوو. که چېرې د یوه مشر یا رهبر په اړه کومه ستونزه وجود ولري، زمونږ دنده دا ده چې له هغه سره په مستقیمه توگه خبرې وکړو. مونږ ته پکار نه دي چې د هغه برحلاف عمل وکړو او یا د هغه په غیاب کښې د هغه څخه بدگویي وکړو. په یاد لرئ چې مشران د خدای له خوا تعین شویدي او هغوی د کلیسا له پاره د خدای بخشش دی. کله چې مونږ د هغو مشرانو درناوی کوو چې خدای مونږ ته راکړي دي، په اصل کې په خپله د خدای څخه درناوی کوو.

## ج: د هغوی څخه ملاتړ

د مشرانو څخه د ملاتړ یوه طریقه دا ده چې د هغوی له پاره دعا وکړو. هغوی د شیطان د قدرت سره د مقابلې او د آغېزمنې موعظې له پاره د خدای قدرت ته اړتیا لري. د ملاتړ بله طریقه کلیسا ته د سوغاتونو ورکول دي. دا د خدای طریقه ده چې د خادمینو د اړتیاوو د پوره کولو له پاره کارول کېږي. د زړې لوظنامې په دوران کې د خدای ټول قوم د هغو کسانو د اړتیاوو په پوره کولو کې چې په عبادتخانو کې یې کار کاوه (لاویان)، په شریکه توگه مسئولیت درلود (اعمال ۱۸: ۲۱، تثنیه ۱۸: ۱- ۵).

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

4. د دې لاندنیو آیاتونو څخه کوم یو د مشرانو څخه د درناوی په اړه خبرې کوي؟
الف: شمیر ۱۸: ۲۱
ب: رومیان ٦: ۱۷
ج: اول تسالونیکیان ٥: ۱۲- ۱۳
د: یعقوب ۱: ۲۲- ۲٥

مونږ همدا شان کلیسا ته په ایمانداری سره د تللو له لارې، د خپلو خادمینو څخه ملاتړ کوو. کله چې یو کشیش په ډېرې خواری سره موعظه، دعا او خدمت کوي، هغه دا تمه لري چې کلیسا هم د هغه ترڅنګ ودرېږي او له هغه سره همکاري وکړي. عبرانیان ۱۰: ۲٥ مونږ ته په ډاګه کوي چې یو بل سره په ټولېدو کې سستي ونکړو. "د یو بل سره د عبادت دپاره د جمع کېدو نه منع نه شو لکه څنګه چې د ځینو خلکو دستور دی، بلکه یو بل ته نصیحت وکړو، او هرڅومره چې هغه ورځ په رانږدې کېدو وینئ هغومره یې زیات کوئ" (عبرانیان ۱۰: ۲٥).

### د: له هغوی سره مرسته او همکاري

مونږ دنده لرو چې د خپلو مشرانو له اوامرو څخه اطاعت او پیروي وکړو (عبرانیان ۱۳: ۱۷). کله چې داسې سلوک کوو، د خدای کار پرمختګ کوي. مونږ باید د بني اسرائیلو د قوم په شان ونه اوسو چې د خپلو مشرانو یعنې موسی او هارون

پرخلاف يې شکايت وکړ (شمير ۱۴: ۱- ٤)، بلکه د هغو خلکو په څېر و اوسو چې د يوشع له دستوراتو څخه يې پيروي وکړه او لوی برې يې ترلاسه کړ (يوشع ٦: ۱- ۲۱او ۸: ۱- ۲۳).

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

5. د لاندیني هر مسئولیت له پاره د هغه اړوند مثال غوره کړئ.

الف: احمد هره ورځ د خپل کشیش له پاره دعا کوي. ...

ب: مقصود د خپل کشیش د هغه لارښوونو څخه پیروي کوي چې د مقدس کتاب د درسي ساعت په اړه د تصمیم نیونې سره تړاو لري...

ج: باتور له خپل کشیش سره په درناوۍ خبرې کوي...

د: یوسف کوشش کوي چې د هغه پیغام په مطابق ژوند وکړي چې د کلیسا کشیش د خدای د کلام په اړه موعظه کړی دی...

و: اکمل او د هغه کورنۍ د خپل کشیش د معاش د رکولو په خاطر مالي مرسته کوي...

۱) له هغه کلام څخه اطاعت چې هغوی یې موعظه کوي.

۲) د هغوی درناوی.

۳) د هغوی څخه ساتنه

٤) له هغوی سره مرسته او همکاري.

## ۳- ترلاسه شوي نتايج

### الف: خدای جلال مومي

کله چې ايمانداران له يوبل سره او يا د کليسا له کشيش سره همکاري کوي، خدای جلال مومي. هغه يووالی چې د ايماندارانو له مرستې او همکارۍ څخه راپيدا کېږي، د دنيا دپاره به هغه ګواهي وي او هغه دا چې مسيح د خدای له خوا استول شوی دی (يوحنا ۱۷: ۲۱). دا کار د خدای د نوم د جلال سبب ګرځي. په زبور ۱۳۳ کې لولو چې خدای ژمنه کړې ده چې هغو خلکو ته به برکت ورکوي چې په اتحاد او يووالي کې ژوند کوي. د خدای پرستۍ يوه نښه دا ده چې خلک د تفرقې او اخ و ډب پرته له يو بل سره په سولې او آرامۍ کې کار وکړي. او دا کار هغه وخت ممکن دی چې ټول شيان د خدای تر کنترول لاندې وي. هغه وخت به سوله او يووالی حاکم شي او دا سوله او يووالی به د خدای د جلال ترلاسه کولو دپاره يو دليل وي.

### ب: کليسا جوړېږي

د ايماندارانو يووالی او اتحاد د دې سبب ګرځي چې د خدای هغه اراده چې د کليسا د بدن له پاره ده، ترسره شي. د خدای د ارادې د ترسره کولو له پاره بايد ټوله کليسا له يو بل سره مرسته او همکاري وکړي.

په افسسيان ٤: ١٦ کې لولو چې: "د هغه په وسيله د بدن هره يوه حصه يو ځای کېږي او د بدن د خپل هر يو پيوند په

مرسته قایم وي. لکه څنګه چې د بدن هره یوه حصه په ښه شان کار کوي نو ټول بدن وربانديې وده کوي او په مینه کې ترقي هم مومي". دا په دې مانا ده چې هره برخه باید له نورو برخو سره مرسته وکړي. هر غړی باید خپل خدمت له ټولو ایماندارانو سره شریک کړي. کله چې مسیح د چارو واګې په خپل لاس کې ولري، نو د پولس دغه وینا به عملي ښه ونیسي چې وایي: "هغوی ټول مرسته ترلاسه کوي او سره یوځای کېږي او وده کوي، هغه وده چې د خدای له طرفه ده".

## ج: خادمین غښتلي کېږي

له یو بل سره د مرستې کولو وس، د حوصله مندۍ نښه ده. هغه څوک چې حوصله لري هغه ډېر ژر نه په غصه کېږي. هغه صبرناک وي او د هغو خلکو په مقابل کې چې ورسره مرسته کوي له زغم او عاجزۍ څخه کار اخلي. دغه زغم او عاجزي د قدرت نښه ده نه د ضعیف والي. دا ځکه چې که هر ایماندار وکولای شي د مشر سره کار وکړي، هغه به غښتلی شي. خدای مشران او د هغې له جملې څخه کشیشان کلیسا ته بخښلي دي ترڅو د کلیسا د تقویت سبب وګرځي او د کلیسا هر غړی خپلې دندې ته چمتو کړي (افسسیان ٤: ١١ او ١٢).

خادمین کولای شي چې د کلیسا د لوی برکت عامل وګرځي، ځکه هغوی په پیل کې د خدای په وړاندې، وروسته بیا د رهبرانو په وړاندې او په پای کې د یو بل په وړاندې خپل ځانونه متواضع او عاجزان کړیدي. کله چې د کلیسا خادمین

داسې يو رفتار ولري، نو هغوی دا درک کړي چې هغه روحاني پوخوالي ته رسېدلي وي چې په افسسيان ٤: ١٣- ١٤ کې د هغې يادونه شوې ده.

## هغه څه چې باید ترسره يې کړئ

6. د لاندنيو آياتونو څخه کوم يو دا په ډاګه کوي چې د ايماندارانو اتحاد او يووالی نړۍ ته دا ثابتوي چې مسيح د خدای له خوا راغلی دی؟

الف: يوحنا ١٧: ٢١

ب: افسسيان ٤: ١١- ١٢

ج: افسسيان ٤: ١٣- ١٤

د: کولوسيان ٢: ١٩

7. لاندې د يو بل او د کليسا د مشرانو سره د ايماندارانو سره د مرستې او همکارۍ په اړوند درې نتيجه ګېرۍ ذکر شويدي. د دې نتيجه ګيريو څخه کوم يو په کامله توګه بيان شوې ده.

الف: هرڅوک په انفرادي توګه زده کړه ترلاسه کوي.

ب: خدای جلال مومي او دنيا په دې پوهېږي چې مسيح د خدای له خوا استول شوی دی.

ج: کليسا وده کوي، ايمانداران قوي کېږي او خدای جلال مومي.

## ځېل ځوابونه مقايسه کړئ

۴) ج

۱) ج

۵) الف) ۳

ب) ٤

ج) ۲

د) ۱

ه) ۳

۲) الف) ۱

ب) ۲

ج) ٤

د) ۳

ه) ۱

و) ۳

۶) الف

۳) الف) صحيح

ب) غلط

ج) صحيح

۷) ج) (دا هغه يواځينی ځواب دی چې ټولې هغه درې نتيجه ګيرۍ چې له هغو ځخه يادونه شوې ده، په دې برخې کې شامليږي.)

## نهم لوست

# په خوشالۍ سره د خدمت پای ته رسېدل

کلیسا وده کړېده. د لو (حاصل ټولولو) وخت را رسېدلی دی. هر چا د خپل محصول یوه برخه راوړې ده ترڅو په کلیسا کې هغه له نورو سره ووېشي. ټول ایمانداران په خوشالۍ سره د خدای له پاره سرود وايي.

آلبرت د هغو پريمانه برکاتو په سبب چې ترلاسه کړي يې دي، د خدای شکر پرځای کوي. هغه دا فکر کاوه چې خدای څومره ډېر کارونه ماته ترسره کړيدي. څو کاله مخکې هغه حتی خلاصون هم نه ؤ ترلاسه کړئ. خو اوس د هغه ټوله کورنۍ د مسيح د بدن غړي دي، او خدای هغه په کليسا کې د خدمت له پاره ګومارلی دی. لکه څنګه چې هغه خپل ځان روح القدس ته سپارلی ؤ، د ناروغانو له پاره به يې دعا کوله او د خدای د کلام تعليم به يې ورکاوه. هغه همدا شان دا هم زده کړي ؤو چې څرنګه له هغو مشرانو سره همکاري وکړي چې خدای کليسا ته وربخښلي وو. په هغې موقې کې چې آلبرت سرود ته غوږ نيولی ؤ، د لو د موسم په اړه يې فکر کاوه، يعنې هغه موقه چې هغه خپل کارونه پای ته رسولي ؤو او بايد د مسيح د ملاقات له پاره چمتو شوی وای. هغه ورځ به څرنګه يوه ورځ وي؟

ښايي تاسو هم دغه پوښتنه له ځانه څخه وکړئ چې د مسيحي خادمينو له پاره څه ډول راتلونکې په انتظار کې دی. دا لوست به ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو دې سوال ته ځواب ورکړئ. اجازه راکړئ هغه بيان شوي حقايق تاسو ته په هغه خدمت کې چې د خدای له پاره يې ترسره کوئ، قوت وبخښي او ستاسو زړونه د خوشاليو څخه مالامال کړي.

## هغه څه چې په دې لوست کې به يې ولولئ

۱- د خدمت پای ته رسېدل

۲- هغه خوشالي چې د خدمت له پای ته رسېدو څخه ترلاسه کېږي

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- د يوه مسيحي درې کارونه توصيف کړئ او د هغې ترلاسه شوي نتايج وليکئ.
- هغه پنځه اجرونه بيان کړئ چې وفاداره مسيحي خادمين يې ترلاسه کوي.
- په خوشالۍ سره د خدای له پاره کار وکړئ او د هغې ورځې انتظار کوئ چې د مسيح سره به مخامخ شئ او له هغه څخه د خپلو کارونو اجرونه به ترلاسه کړئ.

## ۱ - د خدمت پای ته رسېدل

### الف: د ځغاستې سيالي

په نوې لوظنامې کې د يو مسيحي خادم ژوند د يوې ځغاستې له سيالۍ سره تشبيه شوی دی چې په هغه کې اتلان ځغاسته کوي. پولس رسول وايي: "د مقصد په طرف په ځغاسته يم چې هغه انعام حاصل کړم د کوم له پاره چې زه عيسی مسيح بللی يم" (فليپيان ۳: ۱٤). په مسيحي سيالۍ کې هر ايماندار کولای شي چې بريالی شي او لوبه وګټي. د مسيح خبرو ته پاملرنه وکړئ: "زه عيسی ژر درځم او خپل اجر د ځان سره راوړم چې هر يو ته د هغه د عمل په مطابق اجر ورکړم" (مکاشفه ۲۲: ۱۲). څه يوه لويه خوشالي د مسيحي خادمينو انتظار باسي.

مګر د دې سيالۍ د پای ته رسولو په خاطر بايد په هغو آزمايښتونو او وسوسو باندې غلبه حاصله کړئ چې منځ ته راځي. امکان لري چې داسې وسوسه شئ چې په خپل ځان باندې زړه سوی وکړئ. امکان لري چې نا اميدي او مايوسي منځ ته راشي. امکان لري ستاسو نقشې هسې چې تاسو يې تمه لرئ، بري ته ونه رسېږي. ولې د هغه قدرت په وسيله چې روح القدس يې تاسو ته ډالۍ کوي، تاسو کولای شئ چې د ټولو دغو ناخوالو سره مقابله وکړئ او بری ترلاسه کړئ. يوه سيالي به پای ته ورسېږي. ښايي ځيني د هغه څخه ډډه وکړي. امکان لري ځيني مشران ماتې وخوري، مګر "هر څوک چې تر آخره پورې صبر وکړي، هغه به خلاصون ترلاسه کړي" (متي ۲٤: ۱۳).

په هغې طریقې سره ژوندون او خدمت وکړئ چې وکولای شئ لکه د پولس رسول په شان ووایئ: "هغه جنګ چې ماته په دې دنیا کې کول په کار ؤ، ما په ښه شان وکړ، خپله منډه مې پوره کړې ده او هغه ایمان چې ماته سپارل شوی ؤ، هغه مې محفوظ ساتلی دی" (دوهم تیموتیوس ٤: ٧).

## ب: د سپارل شوې دندې بشپړول

په نوې لوظنامې کې د مسیحي خادمینو خدمت د کارې دندې سره تشبیه شوی دی چې بشپړولو ته اړتیا لري. مسیح دا تشخیص کړې وه چې یوه مهمه دنده د هغه په غاړه ده او باید هغه بشپړه کړي. مسیح پوهېده چې همیشه به د یو کار د بشپړولو موقه ونه لري. هغه فرمایي: "ترڅو چې لا ورځ ده نو مونږ ته پکار ده چې د هغه چا په کار اخته شو چې زه یې رالېږلی یم. شپه را روانه ده چې هېڅوک به پکې کار نشي کولای" (یوحنا ۹: ٤). مسیح په دې پوهېده چې څه وخت خپل کار پای ته رسوي. هغه پلار خدای ته داسې وایي: "ما د هغه کار په پوره کولو سره ستا جلال په دې دنیا کې څرګند کړ کوم چې تا ماته سپارلی ؤ" (یوحنا ۱۷: ٤).

مسیح زمونږ دنده په متی ۲۸: ۱۹- ۲۰ کې تشریح کړې ده. مونږ باید پوه شو چې په یوې شیبې کې (د سترګو په یوه رپ کې) مونږ هغه موقه له لاسه ورکوو چې د مسیح خدمت وکړو. مګر هر مسیحي خادم دې باید په دې حقیقت پوه شي چې هغه دنده چې خدای هغه ته سپارلې ده هغه به بشپړه شي. هغه د دې

حقيقت په پوهيدو سره به د خوښۍ او رضايت احساس وکړي.
تاسو بايد خپله دنده ترسره کړئ او وفاداره و اوسئ.

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

1. د خپل يادداشت په کتابچې کې دغه جمله بشپړه کړئ.له هغه مقايسې څخه چې د خدای کلام زمونږ ژوند يا مسيحي کار د ځغاستې له يوې لوبې سره کوي، مونږ دا زده کوو چې ........................................

## ج: د محصول راټولول

نوې لوظنامه وايي چې د مسيحيانو کار د محصول د راټولو په شان دی (متي ۹: ۳۷- ۳۸). د محصول څخه مقصد د دانې کښت، د هغې وده او بالاخره په پای کې د حاصل يا ميوې راټولول دي. د لَو دوران معمولاً د خوښۍ او خوشالۍ دوران وي. همدا شان په آسمان کې هم د وروستني لو په وخت يوه لويه خوښي او خوشالي منځ ته راځي. دا د محصول د رسېدو خوشالي ده. کله چې د مسيح خادمين وګوري چې څومره لوی جميعت د مسيح د بدن د غړو په همکارۍ او د هغه د محبت په ځرګنديدو سره، تل پاتې ژوندون ترلاسه کړی دی، کله چې هغه ناروغان وګورئ چې شفا يې موندلې ده او يا هغه خلک چې ليواله او اميدواره شويدي، هغه وخت به تاسو ته څه د جلال او خوشالۍ ډکه موقه وي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

2. د مقدس کتاب هغه برخه چې د مسیحیانو ژوندون د ځغاستې له سیالۍ سره پرتله کوي عبارت دی له:

الف: متي ۹: ۳۷- ۳۸
ب: متي ۲٤: ۱۳
ج: فلیپیان ۳: ۱٤
د: مکاشفه ۲۲: ۱۲

3. داسې فرض کړئ چې غواړئ د یو مسیحي کار د یو چا له پاره تشریح کړئ. د خپل یادداشت په کتابچې کې هغه تشبیهات ولیکئ چې کولای شئ په دې اړوند یې وکاروئ او د هر یوه له پاره کم تر کمه یو آیت ذکر کړئ.

4. د یو مسیحي د خدمت په اړوند هغه توضیحات چې په ښي خوا ستون کې لیکل شوي دي، له هغو مطالبو سره ونښلوئ چې مونږ ته تعلیم راکوي.

الف: د هغې دندې بشپړول چې مونږ ته سپارل شوېده..
ب: په وفادارۍ سره د خپل دور پای ته رسول او هدف ته رسېدل...
ج: په هغې خوشالۍ کې برخه اخیستل چې د هغو خلکو د لیدلو څخه ترلاسه کېږي چې په مسیح یې ایمان راوړی دی. ...

۱) هغه سیالۍ چې پکې بریالي شوي یاست
۲) هغه دنده چې سر ته رسېدلې ده
۳) هغه محصول چې ټول شوی دی

## ۲- هغه خوشالي چې د خدمت له پای ته رسېدو څخه ترلاسه کېږي

هغه کارګران چې په کار ګومارل شویدي، یوه ورځ به خپل مزد ترلاسه کړي. او د هغو خلکو له پاره چې د ځغاستې په سیالۍ کې بریالي شویدي، د جایزې د ترلاسه کولو موقه لري. په همدې توګه هغه خلک چې د خدای له پاره خدمت کوي، داسې وخت به راورسېږي چې هغوی خپل اجر ترلاسه کړي.

خدای مونږ ته دا امتیاز راکړی دی چې د هغه دپاره کار وکړو. هغه په راتلونکې زمانې کې داسې یو وخت ټاکلی دی چې د مسیح ټول خادمین له یو بل سره راټول کړي. هر څوک به د هغه خدمت په مطابق چې ترسره کړی یې دی خپل اجر ترلاسه کړي (اول کورنتیان ۳: ۸ او دوهم کورنتیان ۵: ۱۰).

هلته به بیلابیل اجرونه وي. تر ټولو مخکې به مسیح شخصاً په خپله ایماندارانو ته ښه راغلاست ووایي. مسیح به داسې فرمایي: "شاباس زما اعتباري او ایمانداره نوکره. تا په لږ څه کې ځان اعتباري ثابت کړ، اوس به زه تا د ډېر څه اختیارمند کړم. راشه او د خپل مالک په خوشالۍ کې شریک شه" (متي ۲۵: ۲۱). د خدای پاک دغه تائید به له هر بل شي څخه با ارزښته وي کوم چې زمونږ په خیال کې ګرځي.

دې نه وروسته به همدا شان مونږ ټول هغه شیان ترلاسه کړو چې خدای مونږ ته د هغو وعده راکړې ده او په حقیقت کې هغه

زمونږ میراث دی. په رومیان ۸: ۱۷ کې داسې لولو: "او چې بچې یو نو وارثان هم یو. مونږ د خدای وارثان او د مسیح په میراث کې شریک یو. که داسې وي چې مونږ د هغه د تکلیفونو په زغملو کې شامل یو نو د هغه په جلال کې به هم شامل شو".

زمونږ بل اجر به د هغو خلکو د لیدلو څخه خوشالي وي چې له هغو سره مو روحاني مرسته کړې ده. دغه خوشالي د پولس رسول په پام کې وه او د تسالونیکیې ایماندارانو ته داسې لیکي: "زمونږ امید او خوشالي او د فخر تاج څه دی؟ آیا هغه زمونږ د مالک مسیح په وړاندې د هغه د راتلو په وخت به تاسو نه یئ څه؟" (اول تسالونیکیان ۲: ۱۹).

همدا شان د خدای کلام په ډاګه کوي چې خادمین به تاج ترلاسه کړي. په هغه زمانه کې چې نوې لوظنامه لیکل کېده، هغه تاج چې ګټل شوي پهلوانانو به هغه ترلاسه کاوه، د ګلو د امیل او یا د زیتونو د څانګې په شان ؤ. دغه تاج به ډېر ژر له منځه ته. مګر بیا هم ډېر د ارزښت وړ ؤ. او یو اتل به د هغه د ترلاسه کولو له پاره ډېره زیاته او اوږده خواري ایستله. په اول کورنتیان ۹: ۲۵ کې مونږ لولو چې زمونږ تاج به د هغه ګلونو د امیل او یا د زیتونو د څانګې په څېر نه وي بلکه هغه به یو تل پاتې او جلالي تاج وي (اول پطرس ۵: ٤).

مګر تر ټولو با ارزښته اجر چې مونږ به یې ترلاسه کړو، هغه د خدای په حضور کښې د ابدي ژوندون خوشالي ده (اول تسالونیکیان ٤: ۱۷). دغه ښادي او دغه خوشالي به کله هم له منځه لاړه نشي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

5. داسې فرض کړئ چې غواړئ د خپل یو دوست له پاره هغه اجرونه تشریح کړئ چې یو مسیحي خادم به هغه ترلاسه کړي. خپل د یادداشت په کتابچې کې پنځه اجرونه ولیکئ او د هر یوه له پاره د خدای له کلام څخه یو آیت ذکر کړئ.

یو مسیحي وفاداره خادم جوړ شئ. هغه خبرې چې پولس رسول د لومړنۍ کلیسا خادمینو ته لیکلي دي او نن هم په خپل قوت سره باقي دي، په یاد راوړئ: "نو ای زما خوږو ورونو! ټینګ او قایم اوسئ او همیشه د مالک په کار کې بوخت اوسئ ځکه چې تاسو خبر یئ چې په مالک کې ستاسو خواري بې فایدې نه ده" (اول کورنتیان ۱۵: ۵۸).

اوس موږ د مسیحي خادمینو په اړه د خپلې مطالعې د پای په شېبو کې قرار لرو. هیله من یو چې خدای تاسو ته برکت درکړي ترڅو د کلیسا په خدمت کې خپل ځای پیدا کړئ او د هغو نعمتونو څخه استفاده وکړئ چې خدای تاسو ته ډالۍ کړي دي ترڅو د بدن د تقویت موندنې او برکت سبب وګرځئ. هماغسې چې له نورو ایماندارانو سره خپل خدمت ته ادامه ورکوئ ښایي ستاسو غوښتنه دا وي چې ځینې درسونه یو وار بیا مطالعه کړئ ترڅو هغه نعمتونه چې خدای تاسو ته ډالۍ کړیدي او هغه دندې چې مشرانو تاسو ته سپارلي دي، د خپل ځان له پاره یو وار بیا په یاد راوړئ. دا

خبره کله هم هېره نکړئ چې ایمانداران د مسیح بدن یا کلیسا جوړوي. او دا په خپله مسیح دی چې بدن (کلیسا) جوړوي او هغه غښتلی کوي او ستاسو سره په نیک کار کې د مسیحي خادم په توګه مرسته کوي

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۳) ستاسو په ځواب کې باید دا لاندني حالات شامل وي او د هر یو دپاره کم ترکمه د مقدس کتاب څخه یو آیت ولیکئ:

لکه د ځغاستې د سیالۍ په شان ده (فلیپیان ۳: ۱٤).

د یوه کار یا دندې د پای ته رسولو په شان ده (یوحنا ۹: ٤ او ۱۷: ٤).

لکه د راټول شوي محصول په شان ده (متي ۹: ۳۷- ۳۸)

۱) ستاسو ځواب ښایي په دې ډول وي: په مقدس کتاب کې د یو مسیحي کار او ژوند د ځغاستې له مسابقې یا سیالۍ سره ورته شوې دی چې پهلوانان یې ترسره کوي. مونږ له دې مثال څخه دا درس اخلو چې د مسیحي خادم دپاره یو هدف وجود لري او باید هغه ته ځان ورسوي. هغه باید په مستقیمه توګه د هغه هدف په لور حرکت وکړي او اجازه ورنکړي چې هېڅ شی د هغه مسیر بدل کړي (ښایي تاسو له دې تشبیه څخه کوم بل درس اخیستی وي).

۴) الف) ۲

ب) ۱

ج) ۳

۲) ج

۵) ستاسو په ځواب کې باید دا لاندیني حالتونه شامل وي:

زمونږ د مالک تائید (متي ۲۵: ۲۱).

هغه میراث چې په مونږ پورې اړه لري (رمیان ۸: ۱۷)

د هغو خلکو د لیدو څخه خوشالي چې مونږ ورسره مرسته کړې ده (اول تسالونیکیان ۲: ۱۹).

د جلال تاج (اول کورنتیان ۹: ۲۵، اول پطرس ۵: ٤)

هغه خوښي او خوشالي چې د خدای په حضور کې د ابدي ژوندون په سبب ترلاسه کېږي (اول تسالونیکیان ٤: ۱۷).

## ستاسو یادداشت

# وروستۍ خبرې

دغه کتاب چې مو ولوست، په ځانګړي توګه لیکل شوی دی. ځکه چې هغه د داسې افرادو په وسیله لیکل شویدی چې ستاسو برخه لیک ته اهمیت ورکوي. دغه افراد بختور انسانان دي، ځکه چې پدې بریالي شویدي چې هغو ټولو پوښتنو ته ځواب ووائي چې د ډیرو خلکو ذهن یې مشغول ساتلی ؤ. دغه بختور انسانان پدې عقیده دي چې خدای ددوی څخه غواړي هغه ځوابونه چې دوی پیدا کړیدي نورو ته یې هم وړاندې کړي. هغوی پدی ایمان لري چې تاسو هم ځینو مهمو معلوماتو ته اړتیا لرئ، ترڅو خپلو ستونزو او مسائلو ته ځواب ووایاست. او په هغه طریقه ژوند لاس ته راوړئ چې تاسو ته ډیرښه بریښي.

هغوی دا کتاب پدې غرض لیکلی ترڅو هغه معلومات چې لازم یې ګڼلی ستاسو په اختیار کښې هم درکړي. دغه کتاب د دی بنسټیزو حقیقتونو پر بنیاد ولاړ دی.

1) تاسو یو خلاصوونکي ته اړتیا لرئ. رومیان ۳: ۲۳، او حزقیال ۱۸: ۲۰ ولولئ.

2) تاسو پخپله د خپل خلاصون څخه عاجز یاست. اول تیموتیوس ۲: ۵، او یوحنا ۱۴: ٦ ولولئ.

3) د خدای خوښه دا ده چې ټوله دنیا دې خلاصون ترلاسه کړي. یوحنا ۳: ١٦- ۱۷ ولولئ.

4) خدای عیسی مسیح راولیږه ترڅو خپل ځان د هغو

ټولو خلکو د خلاصون په لاره کښې قرباني کړې چې په هغه يې ايمان راوړی دی. غلاطيان ٤: ٤- ٥، او اول پطرس ۳: ۱۸ ولولئ.

5) مقدس کتاب مونږ ته د خلاصون لاره په ګوته کوي او په مسيحي ژوندون کښې د ودې څرنګوالی را ښئ. يوحنا ۱۵: ٥، ۱۰: ۱۰ او دوهم پطرس ۳: ۱۸ ولولئ.

6) دا تاسو ياست چې د خپل ابدي برخه ليک له پاره تصميم نيسئ. لوقا ۱۳: ۱-٥، متي ۱۰: ۳۲-۳۳ او يوحنا ۳: ۳٥-۳٦ ولولئ.

دا کتاب ستاسو فکر ته دا خبره څرګندوي چې څرنګه د خپل برخه ليک په اړوند تصميم ونيسئ، او دا موقه در بخښي چې خپل تصميم بيان کړئ. له بله پلوه دغه کتاب د نورو کتابونو سره توپير لری ځکه تاسو ته داسې موقه په لاس درکوي ترڅو د هغو خلکو سره اړيکې برقرارې کړئ چې دا کتاب يې تيار کړيدی. که چيرې کومه پوښتنه ستاسو ذهن ته درځي، اويا د خپلو ضروورياتو او نظرياتو بيانول غواړئ نو کولای شئ چې هغوی ته خط وليکئ.

# مسیحي خادم

آیا غواړئ:

- د خدای خدمت وکړئ؟
- دا معلومه کړئ چې د خدمت له پاره کوم نعمت لرئ؟
- د خدای د خدمت خوند وګورئ؟
- په آغېزمنه توګه د نورو ایماندارانو ترڅنګ خدمت وکړئ؟

که چېرې ستاسو ځواب هو وي، نو دا کتاب ستاسو دپاره لیکل شوی دی. د دې کتاب عملي لارښوونې به ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو دا معلومه کړئ چې څرنګه کولای شئ د کلیسا د یوه غړي په توګه د هغه خدمت وکړئ.

دغه کتاب په ډېرې ساده او آسانه طریقې سره لیکل شوی دی چې لوستل او پوهېدل یې آسانه دي. فقط همدومره کافي ده چې د هغه لارښوونې په عمل کښې پلي کړئ او خپل ځان و آزمایئ.

دغه کتاب د هغو کتابونو د سلسلې یوه برخه ده چې د "مسیحي ژوند" په نامه یادېږي. د مسیحي ژوند سلسله ټول اتلس کتابونه لري. ښه به دا وي چې دا کتابونه په پرله پسې توګه ولولئ.